## د کتاب پېژندنه




کتاب :: پښتو او د ژبارې اړتیا
لیکوال :: صالح محمد صالح
خپرندوی :: بېنوا فرهنګي ټولنه- کندهار
د خپرونو لړ :: (۳(
چاپکال1382 :: ل.کال
چاپشمېر :: (1000 ) ټوکه
چاپځی :: یونایټېډ پرېس- کوټه
کمپوز /ډیزاین :: د هوسۍ مجلې اداره

## "اوس خو دا ولوله"...

په نړۍ کې هر قوم کوښښ کوي، چې د پوهې په مرسته د خپل ځوان نسل ذهنونه روښانه او د پرمختګ پر لوري یې وهڅوي، همدا وجه ده چې په نړۍ کې انسان ستر بدلونونه راوستل او ان چې د زیاتو پټو موجوداتو په هکله یې هم بریالۍ څېړنې وکړې.
که څه هم د افغان ملت لپاره دا کار زیات ستونزمن دی، چې ځان دې د نړۍ له دغو پرمختللو هېوادونو سره برابر کړي، خو بیا هم کولای شي چې لږ تر لږه ځان د پوهې په ګاڼه سمبال او په دې برخه کې لومړي ګامونه اوچت کړي.
دا د هر لیکوال او ټولنپوه دنده ده، چې د خپلې ټولنې لپاره د پرمخیون او پرمختګ لارې چارې په ګوته کړي، ځکه دا ټولنه پر خپلو ټولو وګړو پوره پوره حقونه لري.
که څه هم او سنۍ رساله) کتابګوټی ) یوه ځانګړې لیکنه وه، چې په کوټه کې مې د جوړې شوې پښتو نړیوالې څېړنغونډې (سیمینار ) لپاره مې لیکلې وه او هغه وخت لنډکۍ وه، خو ملګرو غوښتنه وکړه، چې موضوع نوره هم وغزوم، دا دی ما هم تر خپله وسه پورې خپله ټوه هڅه وکړه او دغه کتابګوټی تاسو ته وړاندې کوم. که څه هم دغه موضوع زیات کار ته اړتیا لري، خو بیا هم: "اوس خو دا ولوله چې سترګو کې دي."
په راتلونکې کې کېدی شي سړی د همدې موضوع پر نورو جزئیاتو هم کار وکړي، ځکه چې زموږ ژبه ژباړې ته زیاته اړتیا لري او په کار ده، چې پر دغې اړتیا نورې لیکنې هم وشي، چې زیات ځوانان ژباړې ته وهڅېږي او له دې لارې خپلې درنې ژبې ته خدمت وکړي .

په درناوي
صالح محمد صالح
د بېنوا فرهنګي ټولنې دفتر
کندهار
/1382سلواغه/18ل کال

## ژباړه او د ژباړې اړتیا

ژباړه

د ژباړې په باب ژبپوهانو او کارپوهانو بېلابېل تعریفونه وړاندې کړي، چې هر یوه له خپل اند او لیدلوري څخه یو پېژند (تعریف) وړاندی کړی دی. کېدی شي دا تعریفونه یو له بله توپیر ولري او په فکري لحاظ سره بېل وي، خو بیا هم یوه مشترکه نظریه او تړون په کې شته، چې ویلای شو: په هره ژبه کې یو کلام، یوه بڼه او جوړښت Formاو منځپانګه) محتوا ) لري، چې دغه بڼه او منځپانګه په پوهونه او راپوهونه کې مرسته کوي. که په لنډ ډول د ژباړې تعریف کوو، نو وبه وایو: �ژباړه له یوې ژبې څخه بلې ته د یوه متن د پیام لېږدونه ده�

په نړۍ کې د ژباړې لرغونتیا او تاریخي قدامت د لومړۍ پېړۍ نیمایي ته رسېږي، چې تر دې دمه یې په ولسونو کې دود ژوندی دی او د یوه ارزښتمن کار په توګه پېژندل کېږي. استاد نجیب منلی، بیا لیکي:

"د ژباړې لیکلي تاریخي شواهد تر درېیو زرو کلونو زیات دي ".(1(

استاد رشاد خو ژباړه "د مدنیتونو د لېږد رالېږد اغېزناکه وسیله "ګڼي، چې ملتونه او د ملتونو وګړي یې په فکري او ذهني لحاظ سره تړلي دي او تر ډېره کچه د یو بل له ګډو احساساتو خبر شوي دي. له دې لارې یې د پرمختګ پر لوري هڅه کړې او په دې توګه توانېدلي، چې خپل فرهنګ بډای او د خپل ملت غوښتنې په کې ځای کړي:

"ژباړه د علم د عامېدلو او د فکر د خورېدو یوه داسې وسیله ده، چې علم او پوهه نړیواله کوي او فکر او فن د انسانانو ترمنځ شریکوي. له همدې امله ژباړې هماغه د لیک له پیدایښت سره خپل ارزښت جوت کړی او د زرګونو کلونو وړاندې داسې ډېرلیکونه شته، چې هماغه د لیک په وخت کې په نورو ژبو ژباړل شوي او څوژبې متنونه راپاتې دي ".(2(

ژباړه د زیاتو هېوادونو په فرهنګي بډاینه کې ستر ارزښت او رول لري، نو ما چې د کتاب لیکلو په وخت کې د انټرنټ پاڼې کتلې، یو وخت د یوې ایرانۍ انټرنټ پاڼې پر یوې لیکنې ورپېښ شوم، چې سرلیک یې و: (چرا ترجمه؟) د دې لیکنې لیکوال ښاغلی ر. رشیدا دی، نوموړی ددې پرځای چې په خپل هېواد کې پر دغو ګڼو ژباړو خوښي ښکاره کړي، یو ډول خواشیني ښکاره کوي، ځکه د هغه په اند په دې توګه یو ډول استثمار پراختیا مومي، چې د دوی خپل فرهنګ به تر اغېزې لاندې راولي. دا په داسې حال کې چې د دوی خپل هېوادنی فرهنګ تر ډېره حده ځواکمن، بډای او پیاوړی دی، چې د شا و خوا هېوادونو وګړي یې هم تر اغېزې لاندې دي. دی کاږي:

"که څه هم ژباړه زموږ په هېواد کې ډېره اوږده سابقه نه لري، خو اوس یې بازار خورا تود دی، کله چې د بهرنیو لیکوالو او اندیالو (متفکرانو ) ادبي، فلسفي او فکري اثار په ایران کې ژباړل کېږي او خپرېږي، موږ په عملي ډول له نوې نړۍ سره اشنا کېږو، له داسې نړۍ سره چې موږ ته راښیي دلته نور فکرونه او اوازونه هم شته، چې موږ لا نه وو پېژندلي. موږ له دغو اوازونو، فکرونو، شعر، داستان، فلسفې او... څخه خوند واخیست، ترې اغېزمن شوو او ګټه مو ځنې واخیسته. دغې ژباړې موږ ته د ادبیاتو په برخه کې نوي سبکونه او ډول هم رادننه کړ.

خو هغه څه چې د اندېښنې وړ ده، د دغو اثارو یرغل او بېساري پراختیا ده، چې زموږ د خپل هېواد ادبیات او خپلې ملي غوښتنې تر اغېزې لاندې راولي، کله چې کتابپلورنځیو ته ځو، په الماریو کې یې د شعر، کیسو، فلسفې، سیاست او پوهې... ژباړې تر سترګو کېږي، چې زموږ د خپلو لیکوالو د اثارو کچه ډېره کمه ده."

بیا هم په ټینګار سره ویلای شو، چې که چېرې دغه ژباړه نه وای، نن به دغه ژبه دومره نه پراخېده، ژباړه د هر فرهنګ او ادب د بډاینې لپاره یوه داسې زینه ده، چې د راتلونکې پرمختیا او پرمخیون ضمانت کوي.

کله چې یو فرهنګ او ادب د ژباړې په مرسته شتمن، بیا پر خپلو پښو ودرېد، بیا یې که د ژباړې کچه راټیټه هم شي، کوم منفي اغېز نه لري، خو په دې منځ کې تر ټولو ارزښتناک توکی، د کتابونو منځپانګه او پوهنیز مواد دي، چې هغه که هرڅومره غوره او په تول پوره هم وي، خو په مورنۍ ژبه وي، ملت ته یې زیاته ګټه رسېږي. دا که د هر هېواد پوهنیزه موندنه یا فرهنګي غنا وي، د نورو ژبو ویونکو ته یې هم په هماغه کچه ګټه رسېږي.

د ایران یو بل نامتو ژباړن، چې په لسګونو اثار یې خپلې ژبې ته ژباړلي، د ژباړې په هکله داسې وایي:

"که کومه انګېزه نه وي، انسان یو کار نه پیلوي. د یوه اثر ژباړه د ژباړن په حس او شخصي انګېزې پورې اړه لري. ټولنیزو شرایطو ته په پام سره باید ژباړن داسې کتاب د ژباړې لپاره وټاکي، چې د لوستونکو د پوهې په زیاتوالي کې مرسته وکړي. کله چې ژباړن په کومه برخه کې کومه تشه) خلا ) احساسوي، نو د خپل چاپېریال په ټولنپوهنې لاس پورې کوي، چې په دې توګه د خپلو لوستونکو احساس هم پېژندلای شي."

که چېرې څوک کتاب لیکي، کېدی شي زیات کړاو پر ځان ومني، خو ژباړه هم خپله ستونزه او د زړه کوټلو ربړه لري. ژباړن لومړی اړ دی، چې د وخت، هېواد او ملت غوښتنه په پام کې ونیسي، بیا د خپل ذوق کتنه وکړي، یانې بیا دې د خپلې خوښې کتاب ومومي، خو تر ژباړې وړاندې

باید د کتاب منځپانګه له هره اړخه وارزوي، چې له اسلامي عقایدو سره ټکر ونه خوري، ملي ارزښتونه یې زیانمن نه کړي او ځوان نسل د پوهې او اصلاح پر لوري وهڅوي.
ښایي زیات داسې کتابونه وي، چې ښه بازار ځان ته موندلای شي، خو ژباړن باید یوازې د تجارت او پیسو ګټلو اړخ ته پام ونه کړي، یا دې هم یوازې خپل شهرت معیار نه ټاکي.
له بده مرغه چې زموږ یو شمېر لیکوالو او ژباړونکو نور ارزښتمن معیارونه تر پښو لاندې کړي او یوازې یې په همدې موخه د یوه کتاب ژباړې ته پلټنې وهلي، چې کتاب یې ښه بازار پیدا کړي. یو بل هېوادوال مو له امریکا څخه راغلی و، چې له انګرېزۍ څخه یې ډېرې ټوکې راژباړلې وې، دغه راز یې د خلکو له خولو څخه هم لیکلې وې، کله چې کتاب تر چاپ او خپراوي وړاندې ما ته راوسپارل شو، نو ما هغه ټوکې چې د خپرېدو وړ نه وې، په سره قلم په نښه کړې، چې تر نیمایي کتاب یې ونیو، که څه هم نوموړي ښاغلي ته زیاتو کسانو د کتاب د نه خپراوي وړاندیز وکړ، خو هغه ونه منله، بلکې کتاب یې په یوه بل خپرندوی ارګان کې په لوړ تیراژ سره خپور کړ، چې ښه ډېر خرڅ هم شو او لکه چې ښکاري، هغه کتاب په دې وروستیو کې بیا چاپ شوی او بازار یې ښه ګرم دی .
یو بد مرغي دا هم ده، چې زیات خپرندوی ارګانونه شخصي دي، چې کومه تګلار او اصولي دریځ نه لري. له دې کبله هر هغه کتاب خپروي، چې ښه بازار ومومي. یو شمېر دغسې کتاب چاپوونکو د محمدګل خان نوري د فولکلوریکو کیسو کتاب په وار وار سره چاپ کړ، چې د لیکوال نوم یې هم نه و یاد کړی، دغه راز په پېښور کې د دغه کتاب نکلونه د ډرامې په توګه هم تمثیل شوي، چې د لیکوال د نوم یادونه نه وه شوې، بلکې بل چا ځان د لیکوال په توګه معرفي کړی و .
که چېرې حکومت په دې برخه کې کومه کړنلار او قانوني جواز لرلای، نن به په دې برخه کې دومره خیانتونه نه کېدل. دا له کتاب سره د مینې له کبله نه کېږي، بلکې دغه کار له پیسو سره د مینې لېونتوب دی. که چېرې زموږ دغو خپرندویو ارګانونو د ملي احساس او غوښتنو له مخې کار کولای او یا یې هم موخه دا وای، چې خپل عام ولس او خوارې ژبې ته یې د زړه له تله خدمت وکړي، نو هغو کتابونو ته به یې د چاپ لومړی حق ورکولای، چې لا خپاره شوي نه دي او د ورکاوي له توند ګواښ سره مخ دي. دغه ارګانونه که چېرې همدغسې یوه اعلامیه خپره کړي، چې ارزښتمن ناچاپ کتابونه په خپل لګښت چاپوي، بیا یې یو چوکاټ ورته ټاکلای، چې په دې کې د ارزښتونو د خوندیتوب او د ملي ګټو په اړه کومه تګلاره وای، نو ښایي زیات هېوادوال به هڅېدل، یا یې هم د ژباړې وړاندیز کولای، چې پر دوو ژبو لاسبري کسان ژباړې وکړي او دوی هم د ټاکلو معیارونو له مخې خپرولای. په دې توګه به د زیات پرمختګ لپاره زمینه برابرېده، ځکه دا به لومړی اقدام وای، چې نورو هڅو ته به یې هم لار اواروله.
یوه لیکوال ملګري مې کیسه کوله: څو کاله وړاندې په ایران کې وم، هلته د یوه ترکاڼ (نجار) دکان ته یوه مېرمن راغله، چې د کتابونو د الماری د جوړونې هیله یې درلوده. هغې، ترکاڼ ته د الماری نقشه انځوروله، ترکاڼ ته یې وویل: د الماری په کونج کې لږ ځای پرېږده، زه د خپلو څو سیندګیو (قاموسونو (اندازه اخلم، بیا به یې په ټیلیفون کې درته ووایم.
وګورئ، خلک چې خپل کور جوړوي، خامخا یوه خونه کتابتون ته ځانګړې کوي او هغوی د خپلو کتابونو په الماری کې د کتابونو اوډنه هم په خپلې سلیقې سره کوي.
تر هر څه ارزښتمنه خبره دا ده چې په ټولنه کې مو د کتاب کلتور دود کړای شي او دغه کلتور په دوو درېیو ورځو کې هم نه شي عامېدلای، بنسټیزه خبره دا ده، چې ولس او عام وګړي په خپله خوښه د ېته چمتو شي، چې مطالعه عامه کړي او له کتاب سره مینه وښیي، په دې برخه کې زیات کار په کار دی.
جاهد جهانشاهي وایي: "...ایران تر نورو هېوادونو په دې توپیر لري، چې موږ د کتاب پر پښتې د لیکوال نوم د ژباړن تر نوم کوچنی چاپوو، دا ځکه چې که څه هم د کتابونو له فقر سره مخ یو، بیا هم ژباړه موږ ته زیات ارزښت لري... زموږ پر کورنیو اثارو کوم منفي اغېز نه لري."
په کار نه ده، چې د پردیو اثارو د ژباړې پر ارزښت سترګې پټې شي، ځکه چې دا یوه تجربه شوې او په زبات رسېدلې خبره ده، چې ژباړه د فرهنګي ودې پر لار ستر رول لري. که چېرې څوک په خپله تخلیقي اثار نه لري او هغه د ژباړې په وړاندې هم توند حساسیت ښیي او وایي چې ګټه نه لري، دا په خپله د شاتګ او وروسته والي لپاره لار اواروي. که چېرې تخلیقي ادب کمزوری وي، نو په کار ده، چې دغه تشه په ژباړه ډکه کړای شي، چې د زیاتو ژباړو خپرېدنه په خپله د تخلیق او پنځونې لپاره زیات توکي (مواد) رامنځته کوي، چې څېړونکو او لوستونکو ته به زیاتې اسانتیاوې برابرې شي. دغه راز هغو ملتونو چې غوښتي ځان د نورو له استثمار او یرغل څخه وساتي، یا هم وغواړي چې خپله ژبه یې ژوندۍ او بډایه شي، نو یې ژباړه زیاته کړې ده او په دې توګه یې زیات کسان له دې څخه راګرځولي، چې یا خپله ژبه هېره کړي، یا هم د نورو په فرهنګي کړیو کې له منځه لاړ شي.
د ایران یو بل ژباړن اصغر اندرودي وایي:
..."هغه څه چې غواړم ولیکم، ټول نه شم لیکلای. زما پر کار زما ملګرو خوښي ښوولې ده. زما بله لېوالتیا له دې کبله هم وه، چې زه به د ژباړې

په بهير کې له نويو موضوعاتو او مطالبو سره اشنا کېدم. نو زما د هېوادوالو خبرول هم ضروري وو"..
زيات کسان شته، چې يوازې په ژباړې پسې ګرځي او هغوی په دې باور دي، چې بهرني اثار ځانګړی سبک او معيار لري، چې انسان ځان ته ورکاږي، بل دا چې په بهرنيو کتابونو کې ببېل قوت او کشش پروت دی، چې سړی د نړۍ له نويو اړخونو، د هغوی د ژوند له څرنګوالي، د خلکو له اړيکو او فکري ليدلوري څخه خبرېږي، چې تر دې بله اغېزناکه وسيله نه شته.
شهلايي، چې په ايران کې د کتاب خپرولو د يوه ارګان مشر دی، د ژباړو د خپراوي پر اړتيا داسې رڼا اچوي:
..."هغه کتابونه چې د سياست، اروا پوهنې او لرغونې فلسفې په هکله دي، بايد وژباړل شي، ځکه موږ عملاً ورته اړتيا لرو... موږ د پوهې کاروونکي يو، که کاروونکي نه يو، بيا هم د غرب د پوهې او فلسفې پېژندنې ته زياته اړتيا لرو."
نو موږ د ژباړې د هرکلي پر علت داسې رڼا اچوي:
"څو لاملونه لري، يو د ليکوال نوم او د هغه په اړه خپره شوې اوازه ده، بل د اثر راکښون، د ژباړې ښه والی، البته دا ښه والی د هغو اثارو په برخه کې ارزښتمن دی، چې شخصي حالت نه لري، بلکې مشترک دردونه څرګندوي. ښه اثار وخت او ځای نه لري، ټول ګټور دي... اکثره خپرندوی ارګانونه ژباړه خپروي، خو که يو ليکوال ښه اثر ولري، هغه هم خپروو."
موږ تر دې پړاوه پورې د رسېدو لپاره زيات کار او هڅو ته اړتيا لرو، تر هغه ځايه چې د اړتيا په اړه خبره ده، نو غوره به دا وي، چې د ژباړې پر اړتيا هم يو څه وواېو.

پښتو او د ژباړې اړتيا

ژباړه په هر ډول سره کېږي، يوه بڼه يې تحت اللفظي Literal Translation ده. بله يې مانايي Semantic Translation او دريمه يې ازاده ژباړه Free Translation ده.
ژباړه د هرې ژبې لپاره د يوې سترې روزونکې او مرستيالې په کچه ارزښت لري، هره ژبه د ژباړې په مرسته هم ژوندۍ پاتېږي، هم په پوهنيز، ټولنيز، ښوونيز او فرهنګي ډګر کې ځان ته د پرمختګ لار اواروي. هغه ژبې چې دا مهال په ژونديو او غښتلو هغو کې حسابېږي، نو د پراختيا يوه وجه يې د ژباړې اړخ ته پاملرنه او له نورو ژبو څخه د ګټورو کتابونو ژباړه ده. اوس ځينې ملتونه د ژباړې د ارزښت له مخې دومره ويښ او هڅاند شوي، چې هر ارزښتمن کتاب په خپله ژبه ژباړي او خپروي يې. پرته له دې چې مذهبي، فرهنګي او ټولنيز توپير د هغوی لپاره کوم برید او خنډ وي.
ښه بېلګه يې په امريکا کې هغه نوی ليکل شوی اثر دی، چې لا يې اصلي مسوده نه وه چاپ شوې، چې د ايرانۍ ژباړې زېری يې د ايرانيانو تر غوږونو ورسېد. دغه ډول نور کتابونه هم درواخله، چې په دغه هېواد کې په زرګونو ټوکه چاپېږي او ښه بازار هم لري، ان چې ايرانۍ او اردو ژبو غيرا سلامي هم ژباړل شوي، ځکه چې دغه ملتونه غواړي خپل ټول وګړي له کفري يرغل څخه وساتي او ويې پوهوي، چې ځينې کفري کتابونه په څه موخه ليکل شوي او څه يې ليکلي دي، هغوی بيا په پټو سترګو قضاوت نه کوي، دغه راز که وغواړي ځينې غيرا سلامي نظريې رد کړي، ټول مواد يې په خپله ژبه کې موندل کېږي، چې دوی ته هيڅ کومه ستونزه نه ده.
که چېرې په ايراني فرهنګ او ادب کې د ژباړې ونډه يوې خوا ته کړو، نو له ژباړې پرته به دغه ژبه ډېره غني ونه برېښي. همدغه راز که اردو ژبې ته ځير شو او د پرمخيون يا پرمختګ لامل يې وڅېړو، نو يوازېنی لامل چې دغه ژبه يې تر نړيوالو پولو رسولې، په اردو کې د بېسارو او هراړخيزو کتابونو ژباړه ده، چې د نولسمې پېړۍ په وروستيو کې يې سرعت زيات شو. خو شلمې پېړۍ، دغه ژبه نژدې په ټوله نړۍ کې خپره کړه، اوس شرق څه، چې په غرب او نورو خليجي هېوادونو کې هم ګڼ شمېر وګړي پرې خبرې کوي او ان چې پالي يې هم .
که څه هم د اردو ژبې تاريخي قدامت ډېر لږ دی، خو اوس د انټرنټ او کمپيوټر ژبه ده، ګڼ شمېر ويونکي لري او د نړۍ له مهمو ژبو څخه ګڼل کېږي.
له بده مرغه چې کله- کله خو يوې ژبې ته هغه ارزښت نه ورکول کېږي، څومره چې ورسره ښايي. وايي: ټيګور خپل شهکار اثر "ګيتانجلي" په بنګالۍ ژبه وليکه، خو په پيل کې يې يوازې د ګوتو په شمېر مينه وال ځان ته رامات کړل، کله چې ټيګور دغه اثر په انګرېزۍ راوژباړه، نو د نوبل نړيواله ادبي جايزه يې ترلاسه کړه او په دې توګه د نړيوالو نوماندو (مشهورو) ليکوالو په ډله کې وشمېرل شو، هغه هنري متره يې هم په نړيواله کچه مطرح شوه، ځکه خو يې د خپلو څو رخه ګرو (حريفانو) په وړاندې ويلي وو:
"د مينې هغه خدای چې ما په شرق کې لټاوه، له غرب څخه د مينې لاسونه راوغزول."
ستره ستونزه همدغه ده چې کله-کله چاپېريال نامساعد وي او د فرهنګيانو، ادبپالو او هنرپالو لاسونو ته زينديۍ وراچوي، ګڼې شهکار اثر که په هره ژبه کې وي، خپل هنري ارزښت يې خوندي او پټ وي. ښېوا ايان که په پارسي ژبه ژباړل شوی، بيا هم زياتو کسانو لوستی، د اټکل له

مخې استاد حبيبي په طلوع افغان ورځپاڼه کې برخې - برخې خپور کړی هم دی، چې لا راټول شوی نه دی. خو که هر وخت راټول او د يوه ښېل کتاب په بڼه چاپ شي، خپل هنري او ادبي ارزښت به لري، ځکه چې هنري ځواک او ادبي ارزښت که د هر اثر مهم عنصرونه وي، په ژباړې سره له منځه نه ځي، بلکې بلې ژبې ته هم ګټه رسوي.
ژبه د پوهونې - راپوهونې تر ټولو ښه او اغېزناکه وسيله ګڼل کېږي، چې انسانانو د خپل ژوند له پيله تر دې دمه ترې ګټه اوچته کړې ده. يوه زمانه به انسانانو د خبرو - اترو لپاره کره او سمه ژبه نه درلوده، د خطر په وخت کې به يې يو ډول ږغ (غږ) کاوه، د خوښۍ په وخت کې به يې ځانګړې نارې او کوکې وهلې، د خواشينۍ لپاره به يې بېل او ازونه کښل، همدغو ږغيزو توکو (موادو) د خلکو ترمنځ دود وموند، چې وروسته يې ږغيزه يا د خبرو - اترو اوسنۍ ژبه دود کړه.
د ځينو لرغونو پاچايانو او ټولواکانو په وخت کې چې ليکنۍ ژبه لا نه وه دود شوې، نو انځورګرانو به د ونو پر ډډونو، د ټوالونو يا ښويو ډبرو انځورونه کښل، د انځورونو په واسطه به يې خپل نور ملګري يا هملاري پوهول، خو کله چې ليکنۍ او ږغيزې ژبې لږ څه نور پرمختګ هم وکړ، ليکدود رامنځته شو، چې اوس د نړۍ ټولې ژبې ځانګړی ليکدود او ليکلار لري. دوی ته دغو موادو د ژباړې کار ورکاوه، ځکه چې دوی به يو بل په دې توګه پوهاوه.
په نړۍ کې داسې هېوادونه هم شته چې څو ژوندۍ ژبې په کې ويل کېږي، خو هلته هرې سيمې ته داسې نصاب، اداري نظام ټاکل شوی، چې عام ولس ته په کې ستونزه نه وي، په نوره نړۍ کې حکومت د خلکو لپاره کار کوي، نه خلک د حکومت لپاره.همدا وجه ده چې په دغو هېوادونو کې قومي تعصبونه، کم دي او يو ازې د پرمختګ لپاره سو کوي، هلته ادارو، ښوونځيو، پوهنځيو او د خلکو ژبه هماغه ژبه وي، چې د سيمې اکثريت خلک يې ويونکي وي، حکومتونه هم هرې ژبې ته برابر حقوق ورکوي او کوښښ کوي، چې د خپل هېواد او سيمې هرې ژبې ته وده ورکړي. درسي نصاب په هماغه ژبه وي، لوحې په هماغه ژبه وي او خبرې اترې هم هماغسې دود لري .
که چېرې فرانسه په پام کې ونيسو، په دې هېواد کې فرانسوي ملي او رسمي ژبه ده، ان چې د انټرنټ، اداري غونډونو، ولسمشر او ښوونځيو ژبه فرانسوي ده. هلته داسې کسان هم شته، چې انګرېزي يې په بشپړه توګه زده ده، خو دومره يې نه کاروي، بلکې له خپلې ژبې سره ځکه مينه لري، چې د خپل ملي هويت ځرګندويه يې ګڼي، ان چې هر سامان او هر شي ته يې معادل توری جوړ کړی، يا يې ژباړلی، بيا يې دود کړی دی .هغوی له خپلې ژبې سره بې کچه مينه لري او دا مينه يې په ذهن، زړه او اروا کې په ژوره توګه ځای لري، چې هر وخت د خپلې ژبې او ملت انډوليز پرمختګ ته لار اوروي .
که څه هم د نورو سيمو له خلکو سره به مذهبي، ټولنيز او د بدني رنګ تعصبونه لري، خو د ژبې په مسئله کې بيا ښېل دريځ او ليدلوری لري. دغه راز چينايي ژبه تر ټولو ګرانه او د ډېرو تورو او هيجاګانو لرونکې ده، چې زده کړه يې ډېر وخت غواړي، که چېرې د ژبې د ارزښت مسئله نه وای، هغوی به هم اوس انګرېزي خپله ملي او رسمي ژبه ګرځولې .خو داسې نه ده، هغوی خپل همدا ليکدود عام کړ او په دغه هېواد کې هم په انګرېزي باندې اکثريت پوهېږي، خو پاتې برخه يې نه پوهېږي. ځکه چې د کار و بار ژبه يې هماغه يوه ده. که څه هم د هرې سيمې لهجه يې لږ توپير سره لري، خو بيا هم ليکلدود يې مستقل دی. هغوی که د افغانستان لپاره کوم سامان جوړوي، پر سامان او کارټن يې که انګرېزي ليکي، په خپله ژبه هم وربانديې ځرګندونې ليکي، حال دا چې په افغانستان کې به درې کسان هم نه وربانديې پوهېږي.
د پښتو يوه ستونزه دا ده چې په لره خوا کې د اردو ژبې تر ښکېلاک لاندې ساه کاږي او بل پلو بيا د پارسي، په ځانګړې توګه د ايران کلتوري ستم زياته ځپلې ده. په کوټه، ږوب، لورالايي، پښين، ږوب، ان تر پېښوره پورې يوه لوحه هم په پښتو نه ده راژباړل شوې، که شته، هم د خومره والي له مخې لږې دي .يو ښوونځی هم پښتو لوست نه ورکوي. نو پښتو به څنګه وده وکړي؟
په کوزه پښتونخوا کې خلکو ځانونه اړ کړي، چې اردو زده کړي، په اردو ښوونځيو کې لوست وو ايي او د پوهنتون ژبه يې هم اردو وي. نور نو پر خپله ژبه شرمېږي او ځان ورته ځپل شوی، وروسته پاته او کمزوری ښکاري. په بره خوا کې بيا ښاري پښتانه داسې دي، چې له پښتو او پښتونولۍ څخه يې لاس اخيستی او ځانونه ښاري ګڼي، ځکه نو نه پښتو وايي او نه يې لولي .
د کوزې پښتونخوا په ټوله سيمه کې واکمن دولت اجازه نه ورکوي، چې په ښوونځيو کې دې پښتو لوست ورکړل شي. دولت اجازه نه ورکوي، چې کومه لوحه دې په پښتو واړول شي.
په لره خوا کې هم د کابل او هرات غوندې نور ولايتونه يا ښارونه د پښتنو او پښتو هديره ګڼل کېږي، په دې دوو لسيزو کې د چا نه يادېږي، چې په کابل يا هرات کې دې د پارسي کتابونو په اندازه پښتو کتابونه چاپ شوي وي.
دربار که پاللې ده، يوه ژبه يې پاللې، پښتو يې پرې ايښې، ان چې سپکه کړې، ځپلې او ورکه کړې هم ده. دربار که کوم پوهنيز کتاب چاپ کړی، هغه يې په پارسي چاپ کړی، پښتو يې هېره کړې ده، که پښتانه واکمن شوي دي، پښتو، پښتونولي او پښتانه يې هېر کړي دي او د دربار او دفتر ژبه يې پارسي کړې ده. له پښتو سره تل د مور و د ميرې چلند شوی، که کوم پښتون د خپل حق د غوښتنې په موخه چغه پورته کړې، ورته ويل شوي چې خير دی، لحاظ کوه ! خو د نورو ژبو يوه ويونکي ته هم چا ونه ويل، چې د پښتو او پښتنو لحاظ وکړه!

دربار، هېڅ وخت هم پر پښتو لګښت نه دی کړی، نه يې هم دغې ژبې ته کار کول، کارګملې دی او دا يې د ژباړې ژبه ګڼلې ده. په دې مانا چې لومړی به هر څه په پارسي وي، بيا دې پښتو ته اړول کېږي. په ټوله سيمه کې يوازې پښتانه اړ دي، چې پارسي زده کړي، يوه دري ژبې ته هم دربار نه دی ويلي، چې ته پښتو زده کړه. ځکه چې واکمنان تل د خپلې واکمنۍ، څوکۍ او قدرت په خاطر پښتانه ځپلي، پر حق يې سترګې پټې کړي او ذليل کړي دي .

هغه استادان هم اوس د پښتنو پر روا حقوقو او عام وژنو سترګو پټوي، چې يو وخت به يې د هند پر پردي شويو پښتنو په سلګونو مخونه کتاب ليکه.

پښتانه له پارسي سره تعصب نه لري، بلکې ان د احمدشاه بابا د دربار ژبه هم پارسي وه او دغه دود تر اوسه راروان دی، چې يوه پښتانه هم په دې برخه کې د خپل حق د غوښتنې چغه نه ده پورته کړې، نه هم دوی خيرات غواړي، پښتو خو هم د يوه غوڅ اکثريت ژبه ده، دا خلک خو هم په دې هېواد کې د سربښندنې او مېړانې لرغونی تاريخ لري.

د شمېرنو له مخې، په سيمه کې تر پنجابيانو وروسته پښتانه غوڅ اکثريت دي، خو ستونزه دا ده چې د پاکستان په ځينو ښارونو او هندوستان کې پښتانه يوازې په دې پېژندل کېږي، چې له خپل نوم سره د (خان) توری ليکي، په هند کې خو ډېرکي پښتانه نه په پښتو خبرې کولای شي، نه هم پښتو لوستلای شي.

زموږ موخه د ژباړې له اړخه د پښتو پياوړي کول او د ژباړې د اړتيا په ګوته کول دي، غوره به دا وي، چې پر نورو خواوو زياتې ځرګندونې ونه کړو.

که چېرې پښتو ته د ژباړې لپاره د کار و زيار تياری نيول کېږي، تر هر څه لومړی بايد د پوهنتونونو او ښوونځيو درسي کتابونه په نوي ميتود او له نويو پوهنيزو معيارونو سره سم برابر، بيا دې چاپ او ووېشل شي. خو د پوهنتوني کتابونو د ژباړې په برخه کې هم زياتې ستونزې شته، چې وروسته به يې پر خپل ځای وڅېړو.

پښتو يوازې په دې وده نه کوي، چې هرڅوک دې ورباندې پوه شي او پښتو خبرې دې وکولای شي، بلکې پښتو که په هره توګه وده کوي او د ودې لارې چارې يې هرڅه وي، يو ارزښتمن اړخ يې د پوهنيزو کتابونو ژباړه ده، چې دغه کار د ژبې په بډايتوب او وده کې ستر اغېز لري. که څوک د ژوندۍ ژبې خبره کوي، لومړی د پوهنيزو کتابونو شتوالي ته ګوته نيسي، که يوه ژبه پوهنيز مواد ونه لري، نو د اړتيا ژبه هم نه وي. خو د پښتو بدمرغي همدا ده چې پوهنيز کتابونه يې لږ دي او د ژباړې تله يې درنه نه ده، د پښتو د علمي کولو لپاره يوه داسې اقدام ته ضرورت شته، چې وکولای شي په ټوله سيمه کې مېشت پښتانه د پرديو له کلتوري ستم څخه راوباسي، يوه ايډيولوژيکه تګلاره دې ورباندې پلې کړي، چې شعوري خلک کار او پراخو هڅو ته اړ کړي .هسې خو هم ويل کېږي، چې پښتو په مړو ژبو کې راځي او تر څو کلونو وروسته به له خلکو هېره وي، هغه د چا خبره پښتو به په يوويشتمه پېړۍ کې، د مړو شويو ژبو په کتار کې راځي.

"ژبه په دوه ډوله ده: يوه هغه چې ژوندۍ ده، هغه ژبه چې د يوه يا څو ملتونو وګړي پرې خبرې او ليک- لوست کوي، بايد هر څوک ورباندې وپوهېږي.

دويم ډول هغه ژبه ده، چې په هغې باندې د خبرو اړتيا نه پېښېږي، دا ژبه مړه ده، نه سم اسلوب او ژبني قوانين لري، نه به هم په ورځني ژوند کې کارول کېږي".(3(

ځرګنده خبره ده چې نه کارېدونکې ژبه پاينت، محبوبيت او پياوړتيا نه شي موندلای، خامخا به له دوده لوېږي او له کارونې څخه لوېدلې ژبه نه له نورو سيالو ژبو سره سيالي کولای شي، نه هم له پوهنيزو شتو څخه برخمنېدلای شي، له پښتو سره هم همدغه د مېرې سلوک شوی، پښتانه په دې ګناه ځپل شوي، سپک شوي او رټل شوي، چې په پښتو خبرې کوي. لکه څنګه چې په کړکېچنو حالاتو کې زيات شمېر ټوپکمار همدېته ګمارل شوي وو، چې له ناسمو شرايطو څخه په استفادې سره د علومو له اکاډمۍ، کابل پوهنتون او عامه کتابتونونو څخه پښتو چاپ او ناچاپ کتابونه راوباسي او له منځه يې يوسي. يو وخت پر کابل داسې حالت راغی، چې پښتو کتابونه په تاله خرڅېدل او پاکټونه به ترې جوړېدل. قلمي زړې نسخې به يې اور ته اچول کېدې، خو په دې هم ټوپکوالو زړونه ساړه نه شول، بيا يې چې هرځای پښتو ارزښتمن کتابونه موندل، خيرل به يې او يا به يې په بله طريقه له منځه وړل. چې دغه له منځه وړل شوي پښتو کتابونه ، قلمي نسخې او نور اسناد بيا نه شي تر ګوتو کېدی. نه به يې هم دولت د پلټنې لپاره څه وکړي، ځکه چې دا کار ورته هسې بابيزه ښکاري. پښتو دا وخت د ژوند او مړينې پر پوله ولاړه ده، چې د پرمختګ په دې ګړندي يون کې يې يوازې ژباړه، ژباړه او ژباړه ژغورلای شي. په دې توګه به په نړۍ کې يوه مطرح او ځرګنده ژبه وي، چې ويونکي به يې هم د پوهنيزو توکو په موندنې پسې د نورو ژبو زده کړې ته لاس نه غزوي او تر هغه وخته چې پښتو د دفتر او رسمي ادارو، دربار او دولت ژبه نه شي، وده يې هم ناشونې ده. نبه دا ده چې خپله آر (اصله) سکالو (موضوع) له څو اړخونو وڅېړو او وګورو چې جفاکارو کومې نادودې ورسره کړې، همدغه راز يې د ژباړې له اړخه د ودې او پراختيا لپاره کومې لارې چارې او اړولای شو؟

## په ټولنیز ډګر کې:

ټولنیز ژوند د انساني اړیکو یوه واحد بهیر ته اړتیا لري، په یوه ټولنه کې ټول مېشت انسانان یو بل ته لازم او ملزوم دي، چې همدغه اړتوب او یا یو بل ته ضرورت، انساني ټولنه پالي. له ورکاوي او ړنګېدو څخه یې ساتي.
کله چې مورډ ژبې اړخ ته پام کوو، نو په دې برخه کې که څوک غواړي، هراړخیزه هڅه پیل کړي، لومړی باید د نورو ژبو، ملتونو، توکمونو او دودونو له څرنګوالي څخه ځان خبر کړي، که چېرې په یوه ژبه کې د نورو ملتونو، د دودونو، کلتور او پوهنیزو هڅو په اړه لیکنې او مواد نه وي موجود. نو په دغسې بېخبرۍ کې هر فعالیت، کار و زیار بشپړه پایله نه ورکوي. ځکه په داسې بېخبرۍ کې قضاوتونه او اټکلونه ناسم خېژي.
په پښتو کې هم باید د نورو هېوادونو د ټولنیزو اړیکو او ټولنیزو دودونو اړوند کتابونه راوژباړل شي. په دې توګه به هم د نورو هېوادونو له ټولنیزو تجربو څخه ګټه اخیستلای شو، هم به د یوې داسې نوې ټولنې بنسټ ایښوولای شو، چې د نېکمرغۍ او سعادت لپاره به یې په خپله هڅه کوو .
دا چې پښتو دومره وروسته پاتې ده او په نړۍ، یا نورو ملتونو کې دومره مطرح نه ده، وجه یې همدا ده چې ټولنیز اړیکي یې کمزوري دي، تر اوسه د پښتنو د ټولنیزو چارو کوم اړوند کتاب په انګرېزۍ نه دی ژباړل شوی، چې نړۍ یې ولولي او ځان پرې خبر کړي. له همدې کبله زیات پښتوضد او پښتون‌ضد کسان چې یوه موخه یې د پیسو ګټل وي، د افغاني ټولنې ارزښتونو، دود او روایتونو ته پام نه کوي، راولاړېږي او داسې فلمونه جوړوي، یا داسې مطبوعاتي خپرونې کوي، چې په افغانستان کې نه وېشل کېږي، بلکې بهرنیو هېوادونو ته لېږل کېږي او هلته خپرېږي. دغسې یو فلم په کابل کې د اېنې دفتر له خوا جوړ شوی و، دغه مرکز د فرانسویانو له خوا حمایه کېږي، لویه موخه یې همدا ده چې غیردولتي خپرونو ته مالي لګښت ورکړي او نورې هنري چارې ترسره کړي. دوی د اسامه په نامه یو فلم جوړ کړی، چې یوه افغانه ماشومه یې په کې انځور کړې ده، منفي کرکټرونه یې ټول پښتانه دي، چې په پښتو خبرې کوي. سم او په اصطلاح ملایکې ورونه ټول د نورو ژبو ویونکي دي.
دغه فلم په همدې موخه جوړ شو، چې کوم بهرني ارګان ورته ډالرډالۍ کړي. نور مرکزي کرکټرونه یې ټول غیرمسلکي کسان دي، چې همدغې خامې تجربې !!د یوه غیور ملت ژبه او کلتور خپله وسیله وګرځوله او خپل ناوړه هدف یې ترلاسه کړ.
دغسې یوه بله بېلګه] Escape from Taliban له طالبانو تېښته] نومی هندی فلم دی، چې په دې وروستیو کې خپور شو، په دې فلم کې هم د پښتنو پر ټولنیزو ارزښتونو ملنډې وهل شوي، د دوی ټولنیز ارزښتونه او دودونه منفي معرفي شوي، حال دا چې زیات پښتني-کلتوري ارزښتونه له اسلامي ارزښتونو سره غاړه غړۍ دي. که چېرې پښتنو د خپلو ټولنیزو ارزښتونو د ځلولو او خپرولو وسیلې لرلای، یا یې لږ تر لږه د نورو هېوادونو ټولنیز ارزښتونه په پښتو، یا د پښتنو ټولنیز ارزښتونه په نورو ژبو ژباړلای، نن به د دغسې خرافاتو او لارورکوونکو هنرونو مخه هم نیول کېدای شوای.
د دې لپاره چې ایرانیان په خپل ټولنیز ژوند کې له کومې ممکنه ستونزې او ورکاوي سره مخ نه شي، نو اکثره بروشرونه، خبري پاڼې او اعلانونه د هغوی په خپله ژبه ژباړل شوي، ان پر داروګانو، تولیدي توکو او نورو محصولاتو هم په ایرانۍ ژبې لیکنې شته، چې د هغوی یو ماشوم هم پرې پوهېږي، ایرانیان د بېته نه مجبورېږي چې وییپانګه ورپسې راواخلي، یا هم بله ژبه ورپسې زده کړي. ټلویزیون، راډیو او ځینې نور ټلویزیوني چینلونه هم په پارسۍ ژبه دي، چې د ایران لپاره خپرونې کوي. له دې کبله نه ایراني ولس په دې برخه کې کومه ستونزه لري، نه یې هم ماشومان خپله ملي او رسمي ژبه هېروي، بلکې د ملت جوړونې پروسه یې هم په ښه توګه پرمخ روانه ده او برياوې یې هم خورا زیاتې دي .
څرنګه چې د ټولنیز نظام په جوړښت کې ژبه یو ارزښتمن رول لري، نو په کار ده، چې په ټولنه کې د ژبې محبوبیت او ارزښت ته پوره پاملرنه وشي. زموږ ټولنه تر دې مهاله په تعصبونو کې راښکېله ده، چې همدغه تعصبونه، په تېره بیا د ژبې په موضوع کې قومي تعصبونه او توند چلندي، د پښتو په زیان تمام شوي دي.
که څه هم افغاني جهاد او د پردیو ښکېلاککرو پرضد جګړه او مبارزه د اسلامي عقیدې او اسلامي جذبې له کبله وه، خو په دې وروستیو پنځه ویشتو کلونو کې قومي شخړه پراخه شوې، چې وجه یې د ګاونډیو او پردیو هېوادونو لاسوهنې او زهرجن تبلیغات دي، چې تر دې ګړیه روان دي .
دغه مغرض هېوادونه په خپله ناوړه موخه کې بریمن شوي، خو زموږ یو ژوندی نسل یې له تباهۍ سره مخ کړی. د ژبې موضوع دوی ته یوه قوي وسیله وه، چې پر همدې بنسټ یې په خلکو کې تعصبونه خپاره کړل او افغان ملت یې په زرګونو برخو ووېشه.

د نورو ژبو د ويونکو احساسات يې راوپارول، چې ګواکې يوه قوم پر دوی باندې دوه نيم سوه کاله پاچايي کړې ده، حال دا چې که تاريخ ته ځير شو، پر دې خاورې باندې نورو پرديو زبرځواکونو په سلګونو سلګونو کاله واکمني کړې، خو حيف چې زموږ ځينې ساده هېواوال چې د تاريخ او تېر مهال مطالعه نه لري، دغه ډول تبليغات کوي. دا هرڅه په پټو سترګو مني او د مليتهای ستمديده ! ! نارې سورې وهي. د دوی د اساسي قانون د تصويب په لويه جرګه کې هم همدا شعارونه ورکول، چې موږ نه غواړو پښتو ملي ژبه وي، ځکه چې نورې ژبې هم حق لري، چې وده وکړي. حال دا چې پښتو ته هېڅ کار هم نه دی شوی، او دوی بيا هم چغې وهي، چې د دوی ژبې وروسته پاتې دي، دوی بايد دا ومني، چې په تېرو لسيزو کې په خپله پښتنو د پښتو ملا ورماته کړې او د هغې حق يې نه دی پرځای کړی. دوی بايد دا ومني چې ظلم او ستم خو په خپله هغه قوم وکړ، چې ځان محکوم ګڼي، ځکه چې د پرديو په غوږو ژمنو او وعدو وغولېدل او د يوه داسې زهرجن تعصب اور ته يې لمن وواهه چې نه يې دوی ته کومه ګټه ورسوله، نه به په خپله ناوړه موخه کې بريالي شي. ځکه پوهانو ويلي چې اکثريت هېڅکله هم نه محکومېږي، نه هم له منځه ځي. نو که دا اصولي او پخه خبره په سړه سينه ومني، په کار ده چې خپل ګرېوان ته سر کښته کړي، چې موږ څه غواړو او د چا لپاره يې غواړو ؟

که څه هم د ببرک کارمل په وخت کې د ملي ارشيف لوحه په (ارشيف ملي) باندې واړول شوه او د دې کار لپاره يې د هغه وخت څلور مليونه افغانۍ ولګولې، خو هغه ګټه يې ترلاسه نه شوه کړای، چې تمه يې درلوده .

خو پښتانه اوس تر پخوا راويښ شوي دي، دا په خپله يو شمېر لږکي (اقليتونه) وو چې په خپلو زهرجنو تبليغاتو او تعصب لرونکو چلندونو سره يې اکثريت دومره وځوراوه، چې تر پخوا يې لس چنده راويښ او خپلو ملي ارزښتونو ته يې ځير کړ. پښتانه که له يوې خوا د دې ستم قرباني شول، له بله پلوه يې دا ګټه هم ترلاسه کړه، چې د خپلو نړه کلتوري ارزښتونو لپاره لاس په کار شي. په همدې موخه يو ازې په مطبوعاتي ډګر کې دومره پښتو خپرونې راووتې، چې شمېر يې سلګونو ته رسېږي، د خوښۍ خبره دا چې اکثره خپرونې د دوی په خپلو شخصي لګښتونو خپرېږي. اوس ورباندې د دربار او واکمنو دا احسان هم نه دی پروت، چې ووايي: موږ پښتو ته کار کړی دی، بلکې پښتانه په خپله قرباني ورکوي او پرته له دې چې د چا مالي مرستو ته په تمه وي، کار کوي، داسې کار، چې خپل ټولنيز، ژوند او اړيکي يې غښتلي کوي او د پرمختګ پر لوري ګام اخلي. خو پښتانه په نورو پسې کنځاوې نه ليکي، بلکې د خپلو حقوقو د اعادې خبره کوي، د ټولنې د سوکالۍ لپاره هاند کوي او د هېواد د ځمکنۍ بشپړتيا غم کوي.

تاسې که د کابل زياتره خپرونې وګورئ، په هغو کې د هندي فلمونو د ستورو) اتلانو ) په اړه ليکنې راځي، د هغوی مرکې راځي او داسې نور موضوعات، چې د ټولنې د عامو وګړو درد نه دوا کوي، بلکې يوه ځانګړې طبقه يې لولي.

ټولنه هغه وخت ملي يووالي ته چمتو کېږي، چې تعصبونه يې ختم کړای شي او هرې ژبې ته دې د ويونکو په انډول برابر حقوق ورکړل شي. دغه راز يې په ټولنه کې درناوی او قدر وشي.

همدا اوس که زموږ کوم ازبک، پشه يي يا ترکمن ورور په ښارونو کې په خپله ژبه خبرې وکړي، زموږ دغه لوستي او يوه قشر ورباندې خاندي، ملنډې ورباندې وهي او ان چې سپکوي يې .

خو زما په اند اوس خلک پرځانونو پوهېدلي او دغه اوسني تعصبونه به هم مينې او ورورګلويزو اړيکو ته ځای تشوي. بيا به د هر قوم وګړي د هېواد د اکثريت په ژبه خبرې کوي او د کار، بډايني او پراختيا لپاره به يې هم په ټولنه کې اقدام کوي. لکه څنګه چې په کندهار کې د نورو ژبو ويونکي اوس په روانه پښتو خبرې کوي او ان داسې پښتو ليکوالي او شاعري هم کوي، چې سړی ورته ګوته پر غاښ پاتې کېږي. زموږ ځينې هندو او سک وروڼه هم شته، چې په پښتو کې شاعري کوي، ان چې دېوانونه يې هم شته، چې دا له پښتو سره د دوی مينه څرګندوي.

اصلي خبره دا ده چې له ولس سره دا ستونزه نه شته، په کليو او بانډو کې د هرې ژبې ويونکي شته، چې په همغه خپله ژبه خبرې کوي، نه څوک ورپورې خاندي، نه يې هم غندي. بلکې دغه تعصبونه د يوې ځانګړې ډلې او طبقې له خوا په ټولنه کې خپرېږي، چې له کوم بله ځايه سرچينه اخلي.

په ټولنيز ژوند کې ژبه هغه وخت غوره رول او خپل بشپړ مسئوليت ترسره کولای شي، چې پوهاوی-راپوهاوی پرې اسانه وي. همدغه راز ښه زېرمه او بنسټ ولري، که چېرې ژبه د ژباړې په برخه کې بهرنی ملاتړ ونه لري او ځواک ورکوونکې سرچينه يې کمزورې وي، امکان لري، خلک د يو بل د پوهونې لپاره د نورو ژبو لـه ادبي، هنري او ټولنيزو وييونو څخه کار واخلي، خو که چېرې يوه ژبه د خلکو ټولې ژبنۍ اړتياوې ځوابولای شي، خلکو ته هم هوسايي وربخښي، د دې ترڅنګ د ټولنيز ژوند نظام هم روغ او رمټ پاتېږي .

## په پوهنيز (علمي) ډګر کې:

د ژبې غښتلتيا ، بشپړتيا او لرغونتيا د هغې له پوهنيز شاليد څخه جوتېږي. په نړۍ کې هم هغه ژبې زيات پراخ ملاتړي او دود لري، چې پوهنيزه پانګه يې زياته او ويونکي يې په ويلو ، لوستلو او کارولو کې کومه ستونزه ونه لري. يوه ژبه هېڅ وخت هم په هنري ليکنو او هنري نثرونو لکه لنډو کيسو ، ناولونو او نورو ادبي ټوټو نه علمي کېږي، بلکې د ژبې د علمي کولو او بډاينې لپاره علمي او پوهنيزو کتابونو ته اړتيا شته. ښايي ادبي کتابونه د نثري غنا او فرهنګي بډاينې لپاره ګټه ورسوي او خلک پوهنيزو چارو ته وهڅوي، خو د نړه پوهنيزو توکو شتوالی خپل ارزښت لري.

له بده مرغه په دې برخه کې پښتو ډېره خواره ده، که څه هم دا لرغوني،درنه او پتمنه ژبه د پوهې په هر ډګر کې وړتيا او صلاحيت لري، خو تر ډېره بريده حکومتونو له پامه غورځولې، بلدا چې پښتو لا پوهنتونونو ته په بشپړه توګه لار نه ده موندلې.

په کابل کې ډېرکي پښتانه مېشت دي. خو د دوی لپاره تراوسه په پوهنتون کې پښتو تدريس نه دی ځانګړی شوی، هغه محصلين چې د افغانستان له اطرافو يا کوزې پښتونخوا څخه کابل ته راځي، يا هم پخوا راغلي، نو لومړی اړ دي، چې بله ژبه زده کړي، بيا به ايله دا توان ترلاسه کړي، چې پوهنتون ووايي. ګني د پوهنتون د لوړ قشر له خوا به ورباندې رېشخند ووهل شي.

د کابل پوهنتون ځينې استادان همدا اوس شعوري هڅه کوي، چې پښتو يوه محکومه او له پوهنيز ډګر څخه وروسته پاتې ژبه وښيي. په اوسنيو زياتو استادانو کې د تعصب جنبه قوي او غښتلې ده، زيات پښتانه محصلين ترې سر ټکوي. کوم محصل د پوهنتون له ښوونکي څخه په پښتو پوښتنه کړې وه. نو استاد ويلي وو: به زبان انسانها ګپ بزن ![د انسانانو په ژبه خبرې وکړه !؟؟]

که د ښوونځيو خوا ته پام واړوو ، په کابل کې له رحمان بابا او خوشحالخان لېسو پرته چې په پښتو يې تدريس ورکاوه، بله لېسه نه شته او نه وه چې پښتو دې په کې تدريس شي، دلته هم لويه ستونزه دا ده چې ماشومان هم اړ دي، لومړی بله ژبه زده کړي، بيا ښوونځيو ته د تګ وړتيا پيدا کړي. همدا اوس هم هغه ماشومان او زده کوونکي چې پښتانه دي د خپلو ښوونکو له توند ضديت او رخې سره مخ دي. پښتانه زده کوونکي ځورول کېږي، پوزخند ورباندې وهل کېږي، په قصدي ډول ناکامه کېږي، د استعداد مخنيوی يې کېږي او سمه ونډه نه ورکوي. که تعليمي بورسونه هم ورته راوځي، واکمن يې ترې اخلي او بل چا ته يې ورسپاري.

د کابل د پوهنې (معارف) وزارت همدا اوس د دويم ټولګي زده کوونکو ته د افغانستان يوه نقشه چاپ کړې، چې افغانستان يې پر درېيو برخو وېشلی دی. دغه وزارت په دې ډول غواړي، د زده کوونکو په ذهنونو کې د وېشل شوي افغانستان انځور ژوندی وساتي .

د دغه وزارت اداري رئيس ته کوم خبريال ورغلی و ، هغه په دري ژبه مرکه کړې وه، کله چې خبريال ترې غوښتي وو ، چې همدغه خبرې په پښتو وکړي. نو هغه ورته ويلي وو:

په ما که په روسي ژبه خبرې کوې، روسي درته وايم، خو پښتو نه وايم ! !؟

دا د يوه اسلامي او مسلمان حکومت هغه دريځ دی، چې د خپل هېواد ديوه مسلمان ملت د ژبې په وړاندې يې لري. دا د هغه چارواکي خبره ده، چې د جهاد او اسلام شعارونه يې تر هرې سيمې پورې رسېدلي دي او د چا خبره، کله چې يې جهاد کاوه، اسلام يې کومه پوله او حد نه پېژانده، خو که د اسلام له زاويې څخه دا وڅېړو چې دغه وړ کارونه څومره په کې حرام دي او دا انسانان چې دومره ستر او درانه شعارونه ورکوي، څومره واړه شوي دي، نو دا به راته څرګنده شي، چې دوی دا مهال د بل چا په اشاره او به خړوي او کبان نيسي.

ښايي په يوه ټولنه کې يو لړ کلتوري او ټولنيز ارزښتونه د ټولنې د پرمختګ په اوږدو کې يا له منځه لاړ شي، يا به هم له منځه تللي وي. خو ژبه چې د فرهنګ يوه ستره او مهمه برخه ده، د تل لپاره د قوم له انکشاف سره سمه پرمخ ځي.(4)

خو په هغه ټولنه کې چې د پوهنيزو مرکزونو او بيا ستر پوهنيز وزارت له خوا د ملي ژبې د سپکاوي او د پرمختګ د مخنيوي هڅه کېږي، رښتيا چې د افسوس او اندېښنې وړ خبره ده .

له بده مرغه پښتو تراوسه پورې د وخت درباورنو ته لازمه لار نه ده موندلې، نه يوازې ځای نه دی ورکړل شوی، بلکې د حکومتونو او نورو ټيټ رتبه چارواکو له خوا ځپل شوې، ريشخند ورباندې وهل شوی، د پرمخيون پر لار يې کندې کيندل شوي، ستر، مهم او ارزښتناک کتابونه يې سوځل شوي دي .

زيات پښتانه چارواکي، ستروا کي او ټولواکان تېر شوي، چې له اره به پښتانه وو ، خو په خپله يې په پښتو خبرې نه شوای کولای. د ظاهرشاه په وخت کې پر دولتي مامورينو دا شرايط کېښېښودل شول، چې په پښتو او دري ژبو باندې بايد ليکل او لوستل وکړای شي. د دې کار لپاره ځينې زده کړيځونه (کورسونه) هم جوړ شول، چې پښتو يې تدريسوله، خو په دغو کورسونو کې هغو کسانو تدريس کاوه او لوست يې ورکاوه، چې مسلکي نه وو ، يوازې به يې يو څو پښتو توري زده وو ، له دې کبله دا بهير هم تر لږ ځنډ وروسته شنډ شو او کومه مثبته پايله يې ورنه کړه. د وخت په تېرېدو سره د حکومت توجه هم تربنه واوښته او دومره جدي يې ونه نيوله، يوازې يې اعلاني او شعاري جنبه قوي وه .

د دغې طرحې د عملي کولو لپاره نه کومه ځانګړې بودجه بېله کړای شوه، نه هم ورته مسلکي او پاخه کسان وګومارل شول. خو د پښتون ضد ډلو په زړونو کې يې کينه نوره هم توده او اورنۍ کړه، چې تراوسه دغه ضديت پالي .
همدا اوس هم د کابل په ښوونځيو کې داسې کسان د پښتو ژبې د مضمون ښوونکي دي، چې له آره د نورو ژبو ويونکي دي، پښتو يې سمه نه ده زده،خوله بده مرغه چې اوس تدريس ورکوي .
که لږ شاته لاړ شو او د افغانستان تاريخي بهير ته يوه کتنه وکړو، ښايي راته څرګنده شي، چې يوازې څو د ګوتو په شمار مشرانو پښتو پاللې او د دربار ژبه يې ګرځولې، يا يې هم سالمې ودې ته پاملرنه کړې ده.
"د هوتکو د پاچايي له دوران سره همزمان د افغانستان په ختيزو برخو کې د خوشال بابا (1032-1100هـ ق) لمسي او د اشرفخان هجري زوی (1044-1106هـ ق) افضلخان خټک (1075-0053هـ ق) د خپل رياست په دوران کې د پښتو د بقا لپاره شعوري هڅه کړې ده. ده زيار ايست چې د دري او عربي مشهور کتابونه په پښتو وژباړل شي. ده نه يوازې نور فرهنګي خلک دې کار ته هڅول، بلکې خپله يې هم اثار ليکل او ترجمه کول. د ده په هڅه او تشويق د پښتو د لرغوني نثر ذخيرې بډايې شوې دي ".(5(
په خپله خوشال بابا خو د پښتو پلار و، چې د خپلو سياسي هلو- ځلو او جګړه ييزو مهارتونو ترڅنګ يې پښتو هم پالله، ده د لومړي ځل لپاره د خپلو زامنو په مرسته د پښتو ليکدود د نوي کولو هڅه وکړه، پښتو يې په سيمه او هېواد کې دود کړه، پښتو ته يې حماسه وردننه کړه، پښتو ته يې د شعر په ژبه طب وردننه کړ او د پښتنو د ننګ او پت ساتنې روحيه يې په خپله شاعرانه دنيا کې ونازوله .
د مغلي تاړاک او يرغلونو توندو څپو، که له يوې خوا دغه پښتني سيمه تر ګواښ لاندې نيولې وه، له بلې خوا د خوشال بابا کورنۍ غاښ ماتوونکي ځوابونه ورکول، چې د توري او قلم ژبې يې ډېرې تېرې وې، له همدې کبله يې پر دښمن کاروونکي ګوزارونه کول.
خو تر خوشال بابا وړاندې روښاني دور هم همدغسې يوه غني دوره وه، سره له دې چې دغه غورځنګ د مغلو له جګړو څخه په امان کې نه و، خو بيا يې هم د توري او قلم ډګر تش پرې نه ښود او د پښتو د علمي کولو لومړني پړاوونه يې روزلي دي.
بايزيد روښان (1525-1858م مړ) چې کله د ميرې او پلار له توجه څخه محروم شو، غوښتل يې زده کړه وکړي، له همدې کبله له کوره ووت او په زده کړې پسې روان شو، بيا يې تصوف ته مخه شوه، پنځه کاله يې په يوه کوټه کې رياضت وکړ. هغه د سترو امپراتورانو پرضد جګړې ته ملا وتړله او د پښتنو په ملاتړ يې توره واخيسته. د ننګرهار په تور راغه کې جګړه وه، د پير روښان پوځ ماتې خوړلې وه، دی په هغه تونده ګرمۍ کې پر تورو غرونو او وچو راغو روان و، چې جل وواهه او کلپاڼې ته له رسېدو سره سم ومړ. خو تر ده وروسته د ده زامنو د مبارزې ډګر تود وساته .
پير روښان پر خپل سياسي شخصيت سربېره پښتو ته ځينې ګټور اثار هم وړاندې کړل لکه صراط المستقيم، خيرالبيان، حالنامه، مقصودالمومنين، مخزالطالبين او مکتوبات، چې خيرالبيان يې تر ټولو زيات نوماند اثر دی .
که څه هم دغه اثار خپل ديني او اسلامي ارزښت لري، د تصوف او عرفان له پلوه يې هم اهميت د پام وړ او په پښتو کې له لومړنيو ارزښتمنو اثارو څخه ګڼل کېږي.
هر ملت حق لري د خپلې ملي ژبې د خدمت لپاره لاس په کار شي، خپلې ژبې ته خدمت کول د تعصب مانا نه لري، زيات پښتانه خو د مضر احتياط له مخې خپله ژبه نه کاروي، نه پرې خبرې، نه ليکنه کوي. همدا اوس هم که په يوه مجلس کې لس پښتانه ناست وي، د يوه دري ژبي يا اردو ژبي لپاره دغه پښتانه دري يا اردو وايي. چې دغه بې انصافي په خپله يوه زيان رسوونکې موضوع ده، چې پام نه ورته کېږي. سيد جمال الدين افغان که يوه پښتو جمله ليکلای، نن به ايرانيانو ورباندې دعوه نه کولای، ايراني به يې نه ګڼله. اوس هم که پښتانه د خپل هويت غوښتنه لري او غواړي چې د ژبې په لحاظ ژوندي او مطرح وي، بايد د خپل هويت د ځلونې لپاره هراړخيزې هڅې پيل کړي، د تشو شعارونو پرځای دې عملي کار ته ملا وتړي، ځکه په تشو خبرو او نصيحتونو سره يوه ژبه نه علمي کېږي، بلکې بايد کوښښ وشي، چې ژبه په پوهنيزو موادو سره غښتلې شي، نه په زياتو ويونکو سره.
د امير عبدالرحمان خان په دوره کې هم د پښتو د ودې او انکشاف د ضرورت احساس موجود و، په دغه دوره کې هم ځينې کتابونه په پښتو ژباړل شوي دي.(6(
دغه ژباړل شوي اثار د پښتو کتابونو په کتار کې ځانګړی ارزښت لري، چې لومړنۍ هڅې ګڼل کېږي. ځکه د حکومت او مشرتابه خوا پښتو، که دومره پالل شوې نه ده، ځينو مشرانو د خپل ملي احساس له مخې د دغې خوارې ژبې لپاره د خدمت لېڅې رانغښتې دي.
مخکې هم وويل شول چې د دربار ژبه تر ډېره وخته پارسي وه، ليکونه، فرمانونه، غوښتنليکونه او عريضې به په پارسي ليکل کېدې، له بده مرغه همدا اوس هم ځينې پخواني ميرزايان، پرته له دې چې د خپلې ليکنې په بشپړه مانا پوه شي، اسناد، ليکونه، وړانديزونه، عريضې او نورې پاڼې په بله ژبه ليکي. کله چې سړی کوم کور رانيسي، يا ځمکه پېري، نو پېرودونکي او معامله ګر خپله قباله په پارسي ليکي. چې تراوسه يې د ژباړې هڅه نه ده شوې. که څوک يې په پښتو واړوي، دوی ته د حيرانۍ وړ برېښي، يو پښتون اوس بل پښتون ته په پارسي

عريضه ليکي او دا ورته يو دوديز روايت پاتې دی، بايد ويې پالي. په هر صورت؛ زموږ د موضوع اړخ د پوهنيزو هڅو يادونه ده، چې د پښتو لپاره شوې دي، يا يې هم د ترسره کولو اړتيا ده.

که څه هم د افغانستان لپاره نوی درسي نصاب جوړ شوی او همدا اوس يې تدريس روان دی، خو بيا هم نړيوال معيارونه په کې په پام کې نه دي نيول شوي، په نړۍ کې د شاګردانو ذهني سويې، ذوق، غوښتنو ته په پام سره کتابونه خپرېږي. د دې تر څنګ د حالاتو غوښتنه او تقاضا هم په پام کې نيول کېږي. هلته د وخت له کاروان سره سم او برابر تګ کېږي، خو دلته بيا د ډيورنډ کرښې دومره ستر ناتار جوړ کړی، چې پښتانه يې په خپل کور کې سره وېشلي، په خپلو کې يې په جګړه اچولي او خپل ترمنځ يې اختلافات کرلي دي، خو د انسان د لاس ورغوی هم کرښې لري، دغو کرښو د انسان لاس نه دی ټوټې کړی، دغه خواره واره پښتانه بيا هم يو دي، يوازې د ناسمو حالاتو څپو سره بېل کړي، که چېرې د يوه واحد هېواد په توګه يې د خپلې ژبې د علمي کولو لپاره ګډه هڅه پيلولای، ولې به زموږ د لومړي ټولګي زده کوونکو دا ډول تدريس کاوه، چې:

يو او يو مساوي کېږي په دوو ګوليو) مردکيو.(

دوه او دوه ټانکه شول، څلور ټانکه.

دغه ډول درسي نصاب د دې پرځای چې زموږ ماشومان زده کړې ته وهڅوي او په سالم بهير کې زده کړه وکړي، پوهنيزه سويه يې اوچته کړي، ذهن ته يې د جګړو او شخړو صحنې دروي، د دې پرځای چې علمي او پوهنيزو موندنو، پلټنو او څېړنو ته يې وهڅوي، لا يې د وروسته والي لامل ګرځي. له ماشومتوبه يې ټوپک، شوبله (ټانک) او ګولۍ په ذهن کې ځای نيسي.

د پوهنتون لپاره چې په لومړي ځل غوره پښتو کتابونه وړاندې شول، هغه په دې وروستيو وختونو کې د ځينو بهرمېشتو له خوا د يو لړ غوره پوهنتوني کتابونو خپرول وو، چې له غوره پوهنيزو معيارونو برخمن وو. لکه: د هضمي جهاز انډسکوپي (ډاکټر محمد شريف ظريف)، طبي ميکروبيولوژي (پوهنوال دوست محمد دوست)، د هضمي ملحقاتو د جراحي ناروغيو اساسات (پوهاند دوکتور شېرزاد يعقوبي)، د داخله ناروغيو اساسات (ډاکټر محمد ابراهيم شينواری)، د افغانستان د طبيعي سرچينو پېژندنه (پوهنوال محمد بشير دوديال)، ګام پر ګام له خوشال سره (محمد اصف صميم)، انتاني ناروغۍ (داکټر عبدالناصر جبارخېل) او داسې نور... چې هر يو يې ستر ارزښت لري، چې د شلمې پېړۍ په پای او د يوويشتمې په پيل کې دغه ارزښتناک او ګټور اثار په پښتو وليکل شول، بيا خپاره او ووېشل شول، چې اکثره سرچينې او اخځونه يې نور بهرني کتابونه يا مسلکي خپرونې وې.

په همدې وروستيو کلونو کې ځينې داسې پښتو خپرونې هم راووتې چې د يوه ځانګړي مسلک لپاره بېلې شوي او ځينې ځانګړې ليکنې خپروي، لکه نجات، کمپيوټر ساينس، ټکنالوژي او کمپيوټر، کرنه، کابل پوهنتون او نورې... چې زياترو يې پوهنيز مسايل خپرول، يا به يې هم ځينې نورې بهرنۍ ليکنې راژباړلې، چې په لږه موده کې يې زيات مثبت اغېز پرځای پرېښود. دغو ګټور هڅو او کارونو پښتو، په دې نوي پړاو کې له ساينس، طب، ټکنالوژۍ، طبيعي پوهنو او نورو څانګو سره لا غاړه غړۍ کړه. چې اغېز به يې تر ډېره پاتې وي او هيله ده چې دغه ډول نور پوهنيز کتابونه او خپرونې لا زياتې شي او د بندېدو مخه يې ونيول شي .

دغه ياد شوي کتابونه د لومړي ځل لپاره پوهنتونونو ته ولېږدول شول، چې زياتو محصلينو ته يې اسانتيا برابره کړه، ځکه زياتو محصلينو په خپله ژبه کې د يوه پوهنيز او پوهنتوني کتاب درلودل ستره اړتيا ګڼله، خو لکه څنګه چې ښکاري په اوسني حکومت کې دغه کتابونه په ډېرو پوهنځيو کې د استادانو له خوا له تدريسه پاتې شول، پرځای يې ايراني او يا هم هغه کتابونه دود کړل شوي، چې پنځوس- شپېته کاله وړاندې ليکل شوي او له اوسني وخت سره هېڅ سمون نه خوري.

کابل پوهنتون مجله بنده کړای شوه، همدا اوس اکثره پښتانه محصلين چې په کابل يا هرات پوهنتونونو کې زده کړه کوي، له استادانو او اړوندو چارواکو سر ټکوي، چې پر پښتو او پښتنو سپکاوی کوي. د هرات پوهنتون زياتره محصلين اړ شوي چې ځانونه تاجک معرفي کړي، په شپه غالي (ليليه) کې يې هم د ځپلو او سپکولو لړۍ روانه ده، خو يوازې په يوه خونه کې څو تنه پښتانه او سېدل، هغه هم د يو بل په اتفاق سره توانېدلي وو، هلته ځان ته ځای ومومي. دوی ګيله درلوده، چې ښوونکو ته يې پښتو پوهنيزکتابونه هسې ببولالې ښکاري او ګومان کوي، چې دغه کتابونه فاشيستي نظريې خپروي!!.

که چېرې دغه ډول نور پوهنيز او پوهنتوني کتابونه، خپرونې او مجلې چاپ هم شي، که چارواکي او اړونده مسئولين يې مخه ونيسي، بيا هم بې ګټې کار دی، نو چارواکو ته وړانديز کېږي، چې پښتو ته بايد خپله برخه او روا حقوق ورکړي .

تر دې ګړيه خو پښتو نه په بره او نه هم په کوزه پښتونخوا کې د ښوونځي او پوهنځي رسمي او کارېدونکې ژبه شوه. که څه هم په قوانينو کې ليکل شوي چې د يونيسکو د پرېکړه ليک له مخې دې هر ماشوم په خپله مورنۍ ژبه زده کړه وکړي، خو چارواکو تر دې مهاله خلک په دې تېرويستلي، چې د ټول تعليم پرځای يې يوازې پښتو د يوه مضمون په توګه تدريس کړی، لکه څنګه چې انګرېزي هم د يوې بېلې ژبې په توګه زده کوونکو ته ورزده کېږي. نور نو که د کابل په ښوونځيو کې چا په خپله مورنۍ ژبې خبرې کړي، زيات مهال د ښوونکو له خوا غندل شوی او

اړ ویستل شوی، چې پارسي زده کړي.
د پښتو او پښتنو حقوق یوازې په دې نه پرځای کېږي، چې په ټوله پلازمېنه کې دې په ښوونځیو کې د یوه بېل مضمون یا بېلې ژبې په توګه تدریس شي، بلکې پښتو د یوه غوڅ اکثریت ژبه ده، چې باید ټول پښتو ویونکي ماشومان له ورکتونه نیولې، تر پوهنتونه پورې په خپله مورنۍ ژبه زده کړه وکړي او په کار ده چې نور دغه د اسارت او جبر کړۍ د دوی له غاړې خلاص شي.
په کابل، سرحد صوبه، کوټه او نورو پښتون مېشتو سیمو کې دې پښتو ښوونځي پرانیستل شي، پښتو کتابونه دې په کې تدریس شي، د پوهنتون لپاره دې هم پښتنانه استادان وټاکل شي، چې هر پښتون په خپله ژبه د درس ویلو او زده کړې حق ترلاسه کړي. که داسې نه کېږي، دا په خپله د یوه ستر قوم پر روا حقوقو سترګې پټول دي. تاسې وګورئ، هغو چاروا کو چې پښتنو ته یې د هغوی خپل حقوق ورکړي او هغوی یې پاللي، نه یوازې محبوب او په خلکو کې د منلو وړ دي، بلکې هر وخت یې د ملي احساس او د ملت جوړونې په برخه کې د ګټورو اقداماتو یادونه کېږي.
امیر حبیب الله خان په خپله دوره کې د پښتو د ودې او پراختیا لپاره زمینه برابره کړه، ځینې اخبارونه یې راوایستل چې پښتو شعرونه او پښتو نثرونه به یې خپرول، د هغه مهال اساسي قانون او نظامنامه هم پښتو شوه، چې هم یې عام ولس ته د لوستلو او پوهېدو اسانتیا برابره کړه، هم یې اغېز زیات شو. دغه راز د غازي امان الله خان په دوره کې پښتو مرکو هم خپل اغېز درلود.
ځکه هر سړی چې په خپله ژبه کې مطالعه، زده کړه او څېړنه وکړي، هومره هوسا وي. پښتنانه تر اوسه چې دعا کوي، یوازې امین وایي. تر اوسه د کابل په جوماتونو کې د حافظ، سعدي او نورو ... کتابونه لوستل کېږي، پښتنانه ماشومان ان د ماشومتوب له لومړیو کلونو اړ دي چې پارسي زده کړي او ویې کاروي. تر اوسه لږ ملایان پیدا کېږي، چې د رحمان بابا، شعرونه، خیر البیان او نور پښتو دیني کتابونه تدریس کړي، یا دې هم ورسره بلد وي.
پرېشان خټک خو باور لري، چې پښتنانه په درېیم نسل ختمېږي، د پښتنون زوی نیمه پښتون وي، خو لمسی یې د بلې ژبې) اردو، پارسي) ویونکی شي. په دې توګه یې یو ژوندی نسل ختمېږي. نو که چېرې په مسجد، مدرسه، ښوونځي او پوهنځي کې د پښتو ونډه او حقوق له پامه ونه غورځول شي، ولې به پښتنانه اردو او پارسۍ ته مخه کوي، بلکې خپله ژبه به هم ورته ژبه ښکاري، هم به پرې زده کړه کوي، هم به ترې ګټه اخلي.
په اوسمهالي (معاصر) تاریخ کې په لومړي ځل د امیر شېرعلیخان د سلطنت په دوره کې پښتو ته پاملرنه وشوه، هغه اصطلاحات او مسلکي نومونه چې هغه وخت پښتو ته اړول شوي، تر اوسه دود دي، چې لوستي او نالوستي ورباندې پوهېږي او په خپل ورځني ژوند کې یې کاروي. د داود خان منل شوې ملي ټرمینالوژي او پخواني منل شوي پښتو اصطلاحات چې په ولس کې دود شوي او منل شوي دي د اوسني حکومت د ځینو اړوند چاروا کو لـه خوا په شعوري ډول بدلېږي، د حقوقپوه پرځای حقوقدان، د پوهنځي پرځای دانشکده، د پوهنتون پرځای دانشګاه، د محصل پرځای دانشجو، د سرې میاشتې پرځای هلال احمر افغاني، د اطلاعاتو او کلتور پرځای اطلاعات و فرهنګ، دغه ډول د ځینو وزارتونو او ریاستونو پخوانۍ پښتو لوحې اوس په پارسي ولیکل شوې.
یوه فرهنګیالي کس په پوهنې وزارت کې دنده ترسره کوله، دوی دیوې بهرنۍ انجو په مرسته یو کمپاین پیل کړی و، چې د ښوونځي ماشومانو ته یې ځینې اعلانونه خپرول. د ښوونځیو ماشومانو ته یې یو اعلان درلود:
راځئ سبق ووایو.
بیائید سبق بخوانیم.
دغه فرهنګي شخص لومړی پښتو بیا پارسي لیکلې وه، په همدې ګناه لـه دندې وشړل شو. یوه بل کس یادونه وکړه: د پوهنې وزارت چې د یوه هېواد ستره علمي سرچینه ګڼل کېږي او د یوه هېواد زړه دی، اوس د تعصبونو او کرکې مرکز ګرځېدلی، ان یو بل پښتون ادیب یې یوه شپه او ورځ په دې ګناه بندي کړی و، چې پارسي یې نه وه زده.
اکثره پښتنانه سر ټکونه کوي، چې د دوی پرضد ټول عمر لـه تعصب او کرکې څخه کار اخیستل شوی او هر وا کمن د خپل ذهن او دماغ یوه برخه ځواک په دې لګولی، چې پښتو او پښتنانه وځپي، سپک یې کړي او لـه منځه یې یوسي. پښتنانه تل د زبرځوا کونو، ښکېلاکګرو او زبېښاکګرو د تورې په سیوري کې ساه اخیستې، خو که دوی د خپلو روا حقوقو د ترلاسه لپاره چغه پورته کړې، نو د متعصب، بې فرهنګه، ناپوه او غدار په نومونو تورن شوي دي. څرګنده نه ده چې دغه بدمرغه او توره لړۍ به تر کومه وخته پورې روانه وي، تر کله به پښتنانه ځپل کېږي. نور نو په کار ده چې پښتنانه خپل اصلیت، تاریخي ویاړ او ملي- ویاړلي کلتور ته په پام سره ځانونه وپېژني او د ځان تر پېژندنې وروسته د خپلې خوارې او ځپل شوې ژبې لپاره د کار و زیار ملاوې وتړي. که نور ارګانونه مرسته نه ورسره کوي، په خپله دې په شخصي ډول ورې ورې ټولنې جوړې کړي، د یو بل د تجربو له مخې دې عملي کار پیل کړي، پوهنیز قاموسونه دې د استادانو تر مشورې لاندې بشپړ کړي، دغه ډول دې نور توکي هم سره راغونډ او چاپ کړي.

په پوهنيز ډګر کې چې کله ژبارن له ستونزې سره مخ کېږي، هغه د ځينو پوهنيزو کتابونو د ژباړې پر وخت د يو شمېر اصطلاحګانو ژباړه ده، چې په خپله ژبه يې بديل نه لرو، ځکه تر دې مهاله پورې کوم اصطلاحي قاموس نه لرو، چې د فلسفې، طب، اقتصاد او ...اړوند توري په کې ژباړل شوي وي.
حال دا چې د دغو کتابونو، توکو او سيندګيو شتوالى، د پښتو د علمي کېدنې، بډاينې او پرمختيا لپاره لار اواروي.
اوس که يو څوک کومه علمي ليکنه پښتو ته راژباړي، له زياتو داسې اصطلاحګانو سره به مخ کېږي، چې په مانا به يې نه پوهېږي، يا به يې هم په پښتو کې معادل توری نه مومي، نو دی اړ دی، چې له ځانه ورته يو توری جوړ کړي، چې دغه کار هم د يو ډول پاشلتيا لپاره لار اواروي او خپلسري زياتوي. موږ ګوتو په شمېر ژبپوهان لرو، چې هغه هم له هېواده بهر دي او ورسره اړيکي ټينګول هم ستونزمنه خبره ده، نو ژبارن په دې وخت کې هک حيران پاتېږي او نه پوهېږي، چې څه وکړي.
خو غوره خبره دا ده چې د نويو تورو د جوړونې پرځای دې هغه اصطلاح کټ مټ راواخيستل شي، ځکه د يو څو تورو لپاره بايد يوه پوهنيزه ليکنه له منځه يو نه وړل شي، موږ د پوهې د زياتوالي لپاره اړتيا لرو او ورته اړ يو، چې له دې پرته بله لار نه شته، موږ بايد د نړۍ له کاروان سره ځانونه برابر کړو .
د پوهنيزې ژباړې موخه ژبې ته د خبرتياوو او پوهنو لېږدونه ده. ژبارن به زيات مهال کولای شي، چې يو مطلب په بشپړ ډول وژباړي او د دې تر څنګ زياتې نورې اصطلاحګانې هم راغونډې کړي، خو ژبارن دې دغه کار په لمنليک کې وکړي. زيات مهال کېدی شي ژبارن د يوه پوهنيز پراګراف د ژباړې پر وخت په خپله ژبه کې د اصطلاحګانو او جملو له کموالي سره مخ شي، يا هم ژباړه يو څه نور تفصيل ته هم اړتيا ولري، نو په کار ده چې ژبارن په لمنليک کې دغه زياتونه وکړي. ځکه يو توری په هر ځای کې همغه يوه مانا نه لري. د توري د مانا معيار متن دی، نه قاموس. ژبارن بايد د خپلې ژبې له ژبنيو قواعدو سره پوره بلدتيا ولري. هېڅوخت دې د بلې ژبې ژبني قواعد پر خپلې ژبې نه ورتپي، بايد د تورو او الفاظو معادل دې په خپله ژبه کې پيدا کړي.
د ايران يو مشر ليکوال ډاکتر ضيا موحد د سمې ژباړې د څرنګوالي او قاعدې په اړه په لنډيز سره دا څو جملې ليکي:
.1"بايد د مطلب د نظم او اوډنې له مخې د ليکنې جوړښت وساتل شي.
.2د هرې جملې تر ژباړې وړاندې بايد د هغې ژبنۍ قاعده پيدا کړو او په خپله ژبه کې يې د تورو او اصطلاحګانو انډول ومومو.
.3بايد د جملې خبرتيا په بشپړ ډول ولېږدول شي.
.4بېځايه څرګندونې دې نه کېږي.
.5په پای کې بايد په خپله ژبه کې يوه سمه او رڼه جمله ولرو.
موږ په يوه برخه کې داسې ژباړې لرو، چې ازادې ګڼل کېږي، بل پلو بيا داسې ژباړې لرو، چې متن، ټکی په ټکی ژباړل شوی او زموږ د خپلې ژبې ژبني قواعد په کې په پام کې نه دي نيول شوي، ياني موږ يوه خوا داسې ژباړې لرو، چې موږ يې ژباړه نه شو ګڼلای، بله خوا داسې ژباړې لرو، چې زياتې ترجمه يې دي. لنډه دا چې په دواړو حالتونو کې داسې ژباړې لرو، چې ژباړې نه دي"!
په پوهنيزه ژباړه کې پورتني ټکي مهم رول لري، بايد چې ورته پوره پام وشي، ځکه بېځايه څرګندونې او پېچلتيا پوهنيزه ليکنه نوره هم بدرنګه کوي، هسې خو هم پوهنيزې ليکنې هر وخت خوند نه لري او انسان ژر ستړی کوي، خو که متن ښکلی، روان او ساده وژباړل شي، کېدی شي تر ډېره کچه د لوستونکي د ستړيا او ذهني تېښتې مخه ونيسي .

## زموږ ژبپوهان ولې داسې دي؟

روسي ليکوال ماکسيم ګورکي وايي: �ادبيات د يوې باندې، يا يوې ډلې ژبه نه ده�. رښتيا هم ادبيات هغه نړيواله پېژندويه وسيله او ژبه ده، چې هر ولس په کې خپل احساسات او روايات لټوي. کله چې ادبي توکو ته افاقي بڼه ورکولای شي، بيا نو د ې ر خلک پرې پوهېږي. که يو سترګور ليکوال په شرق کې اوسېږي او په خپل هنري، يا ادبي اثر کې يو لوی درد ځای کړي، نو د شرق ټول او سېدونکي يې له اثر سره مينه ښيي. ځکه دلته د وجودي حدودو پوله نه شته، دلته درد عمومي دی او څرنګه چې ليکوال د عمومي درد او کړاو د انعکاس هڅه کړې، نو زيات کسان يې د اثر د لوستلو مينه وال شي.

خو د احساساتو د لېږدوني لپاره وسيله په کار ده، بيا په ادبياتو کې خو ستره وسيله ژبه ده. که ژبه ناسمه بڼه ولري، نو امکان نه لري چې موضوع دې په سمه توګه ولېږدول شي .

زموږ په ژبه کې لويه ستونزه همدغه ده، چې لا مو ژبپوهان په يوه خوله نه دي، هر يو د بل زيات قواعد او وضع شوي اصول نه مني او هر کس يې خپله ليکلار او تګلار لري .له همدې کبله يوه پاشلتيا رامنځته شوې، لا مو ټولنه د يته تياری نه لري، چې د کوم ژبپوه يا ګرامرپوه ټول وضعه شوي اصول او قواعد دې ومني. خو غوره دا ده چې د پښتو پر بېلابېلو لهجو باندې کار وشي، نه دا چې موږ دې له بهرنيو هېوادونو څخه ورته په خپل لاس جوړ کړل شوي توري راولېږدوو. دغه توري هغه وخت منل کېدی شي چې له ولس څخه راټول شي، موږ د ې رو شيانو ته سوچه نومونه لرو ، خو دا چې څېړونکي مو د مېز ترشا پر ژبو څېړنه کوي، خود به مو اصيل توري مري او موږ به بيا همدغو مصنوعي تورو ته اړ کېږو .اوس پر ژبپوهانو سربېره ځينو غيرمسلکي کسانو هم د ژبپوهنې او ګرامو پوهنې جنډه اوچته کړې، سره له دې چې په خپله ځانګړې لار تعقيبوي، نور کسان هم د يته هڅوي، چې د دوی اصول او جوړښتونه مراعات کړي!

حال دا چې دغه کار د ژبې سوچه توب ته زيان هم رسوي او د يو ډول ديکتاتورۍ بوی ترې راځي.

بايد يادونه وشي، چې دا ستونزه دومره وړه نه ده، چې هسې دې په سرسري ډول تلقي شي او بلې ورځې ته يې پرېږدو ، ځکه د هرې ورځې په تېرېدو سره زموږ د عمر يوه برخه کمېږي، موږ بايد د کار لپاره له هرې ثانيې څخه هم کار واخلو .

په کار ده چې د نويو تورو او لغتونو د جوړولو پرځای، زموږ ژبپوهان سيمه په سيمه، کلي په کلي وګرځي، پر بېلابېلو لهجو دې کار وکړي، توري او اصطلاحات دې راټول کړي، همدغه راز دې د هرې سيمې د لهجې يو پرتلييز جاج واخلي. خو زموږ ژبپوهان چې له ولس او خلکو ليرې په پرديو هېوادونو کې ناست وي، هېڅ وخت هم نه شي کولای د ژبې لپاره بشپړ او معياري کار وکړي. ځکه ژبه له ولس سره ده، نه د يوه يا دوو کسانو په ذهنونو کې. د ژبپوهانو ژبني جوړښتونه او وضعه شوې تګلار به هغه وخت ومنل شي، چې د ولس لپاره کار وکړي، نه د ځانښوونې يا ځانغوښتنې لپاره. اوسني ژبپوهان خو دا هم پر موږ راتپي چې ګواکې په کندهار کې خلک وايي: روژه مې پر خوله ده.

په کندهار کې خو چا نه دي اورېدلي چې ښوک دې پر خوله روژه ولري. که چېرې بيا دا ومنو چې هلته داسې ويل کېږي، نو دا بيا چا اورېدلي، چې: �پر خاموشو سترګو يې يو بل ته کتل�. يا هم �پر 1356ل کال کې ومړ�. نو ځکه اوس هغو کسانو ته زمينه برابره شوې چې خپل ليکدود ته غوره معياري وايي او د نورو پر ژبو پوزخند وهي، چې وايي زموږ په ژبه کې معيار تاکنه ګرانه خبره ده .

د ساري په توګه موږ زيات وخت په لاندې تورو کې تم پاتېږو او نه پوهېږو چې په مانا کې يې کومه يوه غوره وګڼو:

| بڼه | موخه | د دې توري ګومان وربانديکېږي | ار (اصلي) بڼه |
|---|---|---|---|
| ملګرې | ملګرې (ښځينه) | د ملګرو ډله، ملګرتوب | ملګرې |
| ټولګې | ټولګې (مجموعي) | صنف، کلاس | ټولګې |
| خبرې | خبرې، ګپها | خبرې بڼه لرل | خبرې |
| ملنګې | ملنګې (ښځينه) | ملنګي کول | ملنګې |
| توري | توري، شمشېرها | حروف، الفاظ | توري |
| دردېدلي | دردېدلي (ښځينه) | دردېدلي خلک | دردېدلي |

او داسې نور په لسګونو توري، چې د ټولو راوړل له حوصلې وتلې خبره ده. دغه چار په ژباړه کې هم دود ده، چې په دې برخه کې هم همدغه ډول تېروتنې کوي. خلک لا د (د) او (له) توپير هم تر ډېره نه شي کولای. خو ډېر وخت لا همدغه ژبپوهان د (د) او (له) په کارونه کې پاتې راځي، چې دا په خپله د دوی په کارونو کې د نه يووالي او نه تنظيم څرګندويي کوي. د ساري په توګه ليکي: د اوښکو ډکې سترګې، چې آر بڼه يې بايد داسې وي :له اوښکو ډکې سترګې.

ځکه، اوښکې سترګې نه لري او که موږ بيا دوې سترګې ورته کښېنوو ، بيا هم نه پوهېږو چې د اوښکو سترګې په څه شي ډکې دي؟ زموږ تېرو پنځو ستورو د ادبياتو د هرې څانګې بنسټونه ايښي دي، خو همغسې کار بيا چا نه دی کړی، حال دا چې په دې وخت کې کار کول ډېر اسانه او ساده شوي هم دي. مواد ، اسانتياوې او بيا په تېره انټرنټ زموږ په واک کې دی، چا تر اوسه پورې داسې ژبپوه يا بل ليکوال ونه ليد چې هغه دې کلي په کلي وګرځي او پر لهجو دې عملي کار وکړي. موږ چې اوس د کاکړۍ غاړو په باب څېړنه کوو ، همدغه څو چاپ شوې غاړې رااخلو او بيا يې کاپي کوو ، حال دا چې په ولس کې په زرګونو داسې غاړې شته، چې هم د حالاتو انځورګري په کې شوې ده، هم نوې دي، خو څوک دغه کار نه ترسره کوي او که چا دغه کار کړی هم دی، تر اوسه يې دګر ته نه دي رااېستلي، چې نور خلک دغه غاړې ولولي او خوند ترې واخلي .

د پښتو (سور ) توری لس زره کلن تاريخ لري، دغه توری اوس هم ژوندی دی او موږ يې کاروو. د دې توري نورې معادلې ماناوې داسې دي:

.1سور : لمر.

.2سور : تود ، داغ، ګرم.

.3سور : رنګ (سور ګل.(

.4سور : ګل (سوږساندی هم ورته وايي.(

.5سور : يو قوم ديو چې اوس هم شته.

.6سور : نوم.

دغه ډول ډېر نور توري هم شته، چې لرغونې ريښه او تاريخي لرغونتيا لري، خو کار ورباندې نه دی شوی. دا به هم يوازې ځينو کسانو ته جوته وي، چې سورياني مدنيت له ميلاد څخه درې زره کاله مخکې د سند (اباسين ) په سيمه کې منځته راغلی او د نن په شان يې پرمختللی مدنيت درلود او د ژوند څرنګوالی او سطحه يې اوچته وه. موږ به هم زيات په تاريخي بهير پسې نه ځو. نو اوس د ژبپوهانو دغه هڅې چې اوس روانې دي، تر کومه حده اغېزناکې کېدی شي؟

که څه هم د وخت او زمان له يون سره مل ژبه هم پرمختګ کوي، خو که چېرې دغه پرمختګ يوازې په څو کسانو پورې محدود وي او ولس ته په کې ونډه نه ورکول کېږي، زما په اند پايله به يې نيمګړې وي. موږ څه اړتيا لرو ، چې د کلونو نومونه پښتو کوو ، دا څه اړتيا ده چې موږ دې د ځايونو پخواني نومونه ليرې او نوي نومونه دې ورته وټاکو ؟ ايا عملي کار همدغه دی؟ په دې توګه موږ خپلې ژبې ته خدمت کوو ؟

يوه ملګري مې يو راډيويي پروګرام جوړ کړی و ، نو زما په ګډون نورو دوستانو همدغه نيوکه درلوده، چې ژبه يې ډېره رسمي او يو ډول اکاډميکه ده. زموږ ولس د (غونډلې) يانې جملې په مانا څه پوهېږي، يا هم دوی ته د (زده کړيځ) يانې کورس توری ډېر نوی دی او ورسره بلدتيا نه لري. نو کله چې دوی له راډيو څخه دغسې نابلده توري اوري، نو فکر يې په هغه توري کې بند شي، د پروګرام نور محتويات يې هېرېږي، يا هم ځان له راډيو څخه پردی احساسوي او ګومان به کوي، چې دغه پروګرامونه يوازې د تحصيل کړو او لوستو کسانو لپاره دي.

خو کله چې زموږ راډيويي ژبه او ليکنه ساده او عام فهمه وي، نو بيا هومره په ولس کې محبوبيت پيدا کوو او ولس مو ځان ته نژدې ګڼي. بله دا چې د راډيو اکثره توکي نورو ژبو ته هم ژباړل کېږي او د نورو ژبو ويونکي هم کله چې له داسې سختې او ګرانې اصطلاحګانې او توري سره مخ کېږي، نه شي کولای چې د پخوا په شان روانه او ساده ژباړه وکړي. ځکه هغه به اړ وي چې لومړی دا سخته ژبه او ليکدود زده کړي. په ليکلې بڼه که دا نوي منل شوي توري وليکل شي، بايد مانا يې هم ورسره وليکل شي، ځکه چې زيات کسان به د لومړي ځل لپاره ورسره مخ کېږي او پخوا به يې نه اورېدلي وي، نه هم لوستي وي.

زما يوه دوست د خپلې لېسې يوه استاد ته د يوه شاعر کتاب ورکړی و ، چې ويې لولي. هغه استاد کتاب لوستی و او هغه توري يې ترې په بله کتابچه کې ليکلي وو ، چې په مانا يې نه و پوه شوی. په دغو تورو کې يې �ښايست� توری هم ليکلی و ، چې مانا يې ورته ګرانه وه .

موږ حق نه لرو ، چې د يوې لېسې پر دغه استاد باندې وخاندو ، ځکه چې لا مو د ژبپوهانو هڅې په يوې ځانګړې لوستې او ليکوالې طبقې پورې محدودې پاتې دي او ولس ته نه دي رسېدلي.

يوه سړي له کتابپلورنځي څخه کتابونه رانيول، کله چې يې د يوه ژبپوه پر ښکلي کتاب سترګې ولګېدې، نو کتاب يې ژر بېرته کښېښود او شونډه يې بوکه کړه:

�زه نه يم خبر چې زه ناپوه يم او له اسمانه راکښته شوی يم. که دغه سړی له بلې دنيا راغلی، ما يې هغه ورځ کتاب رااخيست، خو په ټکي يې

هم نه پوهېدم، ما کوښښ وکړ چې د پښتو قاموس په مرسته ځينې توري مانا کړم، خو دغه ښاغلي داسې توري کارولي، چې په قاموس کې يې درک هم نه شته�!!
نو دا شوه د يوه ژبپوه د کلونو کلونو هڅه چې ولس ته يې وړاندې کړې ده. نه پوهېږو چې ولس به څو کاله وروسته له څومره نورو ستونزو سره مخ شي. ځکه چې د ولس خپله سوچه ژبه او توري به همدغسې په سينو کې خوندي پاتې وي او متخصصين به له ځانه توري جوړوي. په هلمند ولايت کې ځينې داسې توري شته، چې زما په نظر ډېر ښکلي دي، کېدی شي زموږ ژبپوهانو تر اوسه نه وي لوستي، يا نه وي اورېدلي:
توری مانا
ماردنګۍ: اليکين، تېلي څراغ
کرېه: د جوارو رېبل شوې ساقې
زربۍ: ګنبدي کورونه
برمک: هغه مېزډوله ځای، چې له خټو جوړ شوی او بسترې پرې اوډل کېږي.
رپ (رپک : (طاقچه
انګيا: جاکټ
رخچينه: خولۍ

او دغسې نور... چې د ټولو رانقول مو له موضوع څخه ليرې کوي. ايران د زياتو سامانونو نومونه په خپله جوړ کړي او زيات نوي توري يې دود کړي دي، خو هلته دا هرڅه د علومو د اکاډميو او نورو پوهنيزو مرکزونو له خوا کېږي، چې د هر توري د دودونې لپاره په مياشتو مياشتو په راډيو ، ټلويزيون، انټرنېټ او خپرونو کې هڅه او هاند کوي.
دا وخت چې زموږ په ژبه کې دغسې ديکتاتوري او پاشلتيا روانه ده، نو زموږ خپرندويو ټولنو هم دغه هڅې پيل کړې، چې د خپلو خپرېدونکو اثارو ليکدود وربدلوي، ان که کومه نوې خطي نسخه هم چاپ ته چمتو کوي، نو لاسوهنې او ګوتوهنې په کې روا ګڼي. دغه کار بيا وروسته څګېړونکو ته لوی سرخوږی پيدا کوي، ځکه بيا دوی په ډېرو ستونزو سره دا اټکل کولای شي، چې دغه ليکوال يا شاعر څوک و، د کومې سيمې و او... ځکه زموږ څېړونکو ته خو هسې هم يوازې د لهجې او ژبې له مخې د اټکل امکانات برابر دي او بس.
استاد زلمی هېوادمل چې له همدغسې زياتو ستونزو سره مل پاتې شوی، د خپل (د متن څېړنې ميتودولوژي) نومي کتاب په يود ېرشم مخ کې کاږي:
�ليکدودي ربړې نه يوازې زموږ په خطي اثارو کې ليدی شي، بلکې اوس هم د افغانستان او پښتونخوا د ليکوالو ترمنځ د ليکدود يو شانوالی نه ليدل کېږي. په خپله په پښتونخوا کې د ليکدودي اختلافاتو بهير روان دی.
ځينې غواړي چې پښتو د اردو رسم الخط په قالب کې وليکي او ځينې نور بيا ځانله بېل ليکلدود وضعه کوي...�(7(
ډېر وخت مو همدغه اختلافات د عملي کار مخنيوی کوي او ليکوال نه پوهېږي چې د عملي کار لپاره له کومو موادو څخه کار واخلي. کوم ليکدود خپل کړي، چې بيا وروسته نور ټکرونه او اختلافات اوچت نه کړي.
د استاد زلمي هېوادمل د همدغه اثر په 32مخ کې لولو:
�د همدغو لهجوي اختلافاتو له امله زموږ کندهاري ليکوال چې غواړي د کندهار د سيمو د پخوانيو ليکوالو او شاعرانو اثار، چې اوس چاپېږي، بايد متن څېړونکي هغه د کندهار د لهجې مطابق تهيه او چاپ کړي. په پېښور کې د احمد شاه بابا د ديوان تر چاپ وروسته ما د خپلو کندهاريو استادانو له خولو واورېدل، چې ويل به يې :له احمد شاه بابا څخه يې يوسفزی جوړ کړی دی�.(8(
نو که چېرې خپرندويې اداري خطي نسخې په هماغه بڼه خپرې کړي، نه به متن څېړونکو ، نه هم نورو څېړونکو ته کومه ستونزه پېښېږي.
زموږ نوی نسل لا چرس، يا سګرېټ څکول او نسوار اچول يو ډول ويار ګڼي او په شعوري کسانو کې مو هم د قومپالنې او قومي ډلګيو بازار تود دی، ياني د قبيلوي ژوند خوا ته مو سرعت زيات دی، نو په داسې وخت کې چې د ژبې ډګر هم دغسګې رنګ او هر کس په کې خپله قاعده تر ټولو غوره وګڼي، نو دا وېره هم په کار ده، چې اخر به مو خپله ژبه له لاسه ورکړې وي. بيا به نه په مستقل نوم او مستقلې ژبې پېژندل کېږو.
دا مهال چې د هر ژبپوه هڅې يوازې د هغه په خپلې ډلې او ملګرو يا محدودو کسانو پورې محدودې دي، همدغه ژبپوهان مو هم يو او بل نه مني. يو يې پر يوې لار روان دی او بل يې پر بله.
يو وخت مې ياد دي، چې همدغسې يوه ستر استاد د خپلې لارې د يوه بل ملګري کتاب اوچت کړ، وروسته يې بېرته کتاب وغورځاوه او ويې ويل:
�موږ جرئت نه شو کولای چې د زردشت نوم په خوله واخلو ، خو دا ورور مو وربانديې پنډالبيان کارېې او چاپوي يې�

نو دا جوته نه ده چې په دې کتاب کې ده څه نیمګړتیا لیدلې وه او ولې یې د دې وړ نه ګڼي، چې چاپ دې شي. که چېرې موضوعي کره والی په کې نه وي، دا خو د همدغو استادانو کار دی، چې باید ورته په ګوته یې کړي او که ژبه یې ناسمه وي، یا په خطا تللې وي، بیا هم په کار ده چې همدغه استادان ورته سمه لار په ګوته کړي .که چېرې بیا د سیالۍ او رقابت خبره وي، بیا خو په کار نه ده چې په دې اور کې دې ژبه قرباني شي!

انګرېزي ژبه هم بېلابېلې لهجې لري، هغه لهجه چې تر انګلستان دباندې سیمو کې ویل کېږي، د لندن د مرکزي ښارونو له لهجو سره زیات توپیر لري. خو موږ وینو چې په ټوله نړۍ کې یو لیکدود او قاعده لري. هر کس چې انګرېزي ژبه زده کوي، هماغه یو ډول ګرامر او قاعده زده کوي.

د اردو ژبې د پرمختګ او پرمخیون یو لامل همدا دی چې هلته د الفاظو او لهجه یي توپیر پرځای موضوع ته زیاته پاملرنه کېږي، هغوی دا هڅه نه کوي، چې ځینې توري په زوره بدل، یا یې نوي جوړ کړي. دوی ته کار زیات ارزښت لري او د کار لپاره هڅه کوي هغه لیکدود او لهجه وکاروي، چې زیات کسان ورباندې پوه شي او د لیکنو له موضوعي منځپانګې څخه وړګټه واخلي، هلته بیا موضوع تر لیکدود یا لیکلار نه قربانوي. نو ځکه نن اردو ژبه په پرمختللو ژبو کې راځي او نن په انټرنټ او ټولیزو رسنیو کې هم پراخه ونډه لري. که څه هم ځوانانو به یې په بهرنیو ژبو زده کړې کړې وي، خو د خپلې ژبې د زده کړې لپاره ډېرې اسانتیاوې لري او په ډېره اسانۍ سره یې زده کولای هم شي. ځکه هلته بیا دومره مختلف او سره لیرې ژبني قواعد ددوی مخنیوی نه کوي .

زموږ یوه پیاوړي شاعر کیسه کوله:

�دلته د پوهنتون استادان دي او د پوهاندۍ یا پوهندویۍ تر رتبو پورې رسېدلي، بلا ډېره کاري او پوهنیزه تجربه !؟ هم لري، خو کله چې یې شاګردان د پښتو الفبې په اړه ترې پوښتنه کوي، نو دغه استاد یې سبا ورځې ته په تمه کوي، سبا بیا ما ته راځي، زه ورته پښتو الفبې ورښیم. اوس هم که په پوهنتون کې دغه استادان سره کښېني او کوم محصل ترې وپوښتي، چې د پښتو الفبې توري څو دي؟ یو به یې 28 ګڼي، بله به یې 30، بل به ترې ګرسره خبر نه وي، حال دا چې دوی له ډېرو کلونو راهیسې د پښتو ژبې استادان پاتې شوي او له همدې لارې یې معاش اخیستی دی�

زموږ چې تر اوسه د پوهنتون استادان د خپلې تدریسي ژبې په ګرامر، الفبا او قواعدو نه وي خبر، له نورو به څه سرټکونه کوو؟!

زموږ ښاغلي ژبپوهان چې لا تر اوسه یې یو د بل پر کار زړه اوبه نه څښي او یو ډول رقابتي ډګر یې تود کړی، په کار ده چې خپلې ډلې یا کړۍ ته نه، بلکې ولس او خپلې اصیلې ژبې ته د کار ملا وتړي. دوی دې موږ ته په خپل لاس جوړ شوي لغات نه رالېږي، بلکې د ولس له منځه دې کار پیل کړي او له ولس څخه دې هغه ارزښتمنه پانګه راټوله کړي، چې د ورکېدو او زوال په حال کې ده. په دې ځانګه کې کار کول، یوازې او یوازې زیار او دغسې عملي پلټنه غواړي.

دغه ښاغلي استادان دې یو داسې لیکدود وضعه کړي، چې د ټولو سیمو لپاره د تطبیق او منلو وړ وي. د باره ګلۍ د پرېکړې غونډې دې نه سلا کېږي، چې بیا یې نه څوک عملي کوي او نه یې هم کره ګڼي .دوی باید د هرې لهجې حقوقو او ویونکو څومره والي ته پاملرنه وکړي. داسې کار دې نه کوي، چې بیا بله ورځ یوه بل تعصب، کرکې یا رنګبدنې اور ته لمن ووهي. بلکې دا یوه حساسه او مهمه موضوع ده، په دې کې غور او دقت په کار دی. دوی دې د نیوکې او انتقاد د منلو روحیه پیدا کړي. ځکه هر کس حق لري، یو نظر ورکړي، که چېرې دوی پر یوه نیوکه توند غبرګون ښیي، پایله به یې یوه لویه لفظي شخړه او نانډرۍ شي، چې ډېر نور تضادونه به هم راپورته کړي.

که دغه کارونه سره منسجم او یوه بشپړه کتنه ورباندې وشي، نو ولس به هم له ستونزو خلاص وي، لیکوالان، په تېره بیا ژباړونکي به هم له ستونزو څخه خلاص وي، ځکه چې د یوې قاعدې له مخې به کار کوي او په دې برخه کې به دوه زړې کېږي هم نه، غوره به دا وي چې د موضوع د لا پراختیا لپاره پر لغت جوړونې هم یو ځغلند نظر واچوو.

## پښتو نیولوجېزم – نیولوګېزم (لغت جوړونه – ویی رغونه) یوه ستره اړتیا:

په پښتو باندې د پوهنیزو کتابونو ژباړه که له یوې خوا یوه ستره اړتیا ده، له بلې خوا د پرمختګ او پرمختیا پرلوري یو ستونزمن ګام هم دی. په دې برخه کې که کتابونه ژباړل کېږي، نو یوه ستونزه چې زموږ لیکوال ورسره مخ کېږي، هغه په پښتو کې د ځینو پوهنیزو اصطلاحاتو نشتوالی دی. همدا اوس هم زیاتې طبي لیکنې پښتو ته راژباړل کېږي، چې اکثره انګرېزي اصطلاحات یې ټکي په ټکي را اخیستل کېږي، په په پښتو کې یې انډول (معادل) نه وي. له دغه ډول لیکنو څخه یوازې هغه کسان ګټه اخیستلای شي، چې د هماغه مسلک او مهارت لارویان وي. په هغه برخه کې معلومات او مطالعه ولري. له دې کبله زیات لیکوالان د پوهنیزو کتابونو ژباړې ته زړه نه ښه کوي.
که کوم طبي کتاب پښتو ته ژباړل کېږي، 30 سلنه یې لاتیني او انګرېزي اصطلاحات را اخیستل کېږي. چې محصل اړ دی، هغه اصطلاح کټ-مټ ذهن ته وسپاري، حال دا چې په پښتو کې به یې اصلي مانا ډېره ښه کېږي او معادل توری به ورته جوړېدی هم شي، نو له ژبپوهانو څخه هیله کوو چې د مسلکي کتابونو د زیاتوالي او د ژباړې د ښه والي لپاره طبي، ساینسي او ... قاموسونه ولیکي، چې کومه ستونزه پاتې نه شي.

که چېرې د ژبپوهنې له قواعدو او اصولو ناخبره کسان لغت جوړونې (نیولوجېزم) ته لاس غزوي، ښایي پایله یې ګټوره نه وي، ژبپوهان دغه کار ښه کولای شي.
دا مهال اکثره هغه لیکوالان پښتو نیولوجیزم ته لاس غزوي، چې په بهر کې مېشت دي او دوی ګومان کوي، چې دا هڅې به یې ولس ته د زیات قدر او درناوي وړ وي. یوه بل ښاغلي لیکوال هم د شمېرپوهنې (ریاضۍ) زیات کتابونه له نورو ژبو څخه پښتو ته اړولي، خو ده ان مثبت، منفي، مساوي او تقسیم ته هم له ځانه نومونه غوره کړي، چې زده کوونکي او محصلین بیا اړ دي، لومړی د ده له جوړو شویو تورو سره ځانونه بلد کړي، بیا د کتاب منځپانګه ولولي. باید ټینګار وشي، چې د دې پرځای چې پښتو نوره هم سخته او ګرانه شي، باید هڅه وشي، د داسې تورو د جوړونې مخه ونیول شي، چې ژبې ته بدرنګي وربخښي.
که څه هم په دې برخه کې زموږ د برلاسو او استادانو شمېره کمه ده، خو له همدې کمې شمېرې څخه هم باید پوره ګټه واخلو. له دوی سره باید مشورې او سلا وشي، چې هغوی څه وړاندیز او خبرې لري. سمه ده چې د شخصي خپرندویو ټولنو له خوا پر ژبې او ژبنیو قواعدو دومره څارنه نه کېږي، خو ولس بیا دې ټکي ته زیات ځیر دی، که چېرې په کوم کتاب کې زیات نوي توري راغلي وي او دوی ورسره بلد تیا ونه لري، نو که هرڅومره ګټور کتاب هم وي، لیرې یې غورځوي. د دې پرځای چې ولس له ګټورو کتابونو برخې کړو یا یې له مطالعې څخه راوګرځوو، باید کوښښ او هاند وکړو، چې په دې برخه کې له زیاتي او افراط څخه کار وانه خلو، بلکې که کوم نوی توری هم جوړوو او موږ یې د کارونې اړتیا احساسوو، په کار ده چې له اړوندو استادانو سره مشوره وشي.
زیات داسې کتابونه چاپ شول، چې لیکوال به د کتاب په پای کې یوه وییپانګه هم چاپ شوې، چې هغه لیکوال له ځانه رغول شوي توري په کې اوډولي او ماناګانې یې ورسره لیکلې دي.
"د ژبې کره کول، یوه اکاډمیکه اړتیا ده. د نړۍ د ټولو ژبو ویونکو دا اړتیا حس کړې او ورسره سم یې د خپلو ژبو له بېلابېلو ګړدودونو (لهجو) څخه یوه سمه، سوچه، پر اصولو برابره او ټولو ته د منلو وړ ژبه را ایستلې او عامه کړې ده ".(9)
له بده مرغه چې اکثره کسانو یوازې لغت جوړونې ته مخه کړې او دا کار په داسې یوه حال کې کوي، چې د یو بل له هڅو دومره خبر هم نه دي، ځکه زیاتره یې په لیرېو پرتو هېوادونو کې مېشت دي، خو اوس وخت لغت جوړونه ستره اړتیا ده، خو داسې هم نه، چې هرڅوک دې ورته مخه کړي. بلکې په دې برخه کې باید اکاډمي او نور استادان په ګډه ونډه ولري. ګنې دغه کار به د ګټې پرځای تاوان وکړي .

## په فرهنګي ډګر کې:

"د اوسنیو پرمختللو څېړنو او عیني واقعیتونو له مخې دا ټکی باید ومنو ، چې پښتو د اسیا له هغو مهمو ژبو څخه ده، چې د شتوالي تاریخ یې د اسیا په یوه ډېر مهم، لرغوني او تاریخي کام (پښتنو- پټانانو- افغانانو ) پورې اړوند دی ".(10)

پښتو لرغونې او تاریخي ژبه ده، چې ان تر اسلام مخکې یې هم په ځینو کتیبو ، څلیو او کتابونو کې څرک لګېدلی دی او څرګندوي چې دا ژبه تر زیاتو نورو ژبو اوږده سابقه او تاریخي شالید (پسمنظر ) لري. خو د نېکمرغۍ ځای دا دی، چې پښتو یوازې ژبه نه، بلکې پښتو قانون دی، پښتو څلی او نرخ دی، پښتو قسم- ژمنه، هوډ او پښتو یو بشپړ کلتور دی.

دا اوس هم په کوزه پښتونخوا کې بې پښتو ، پښتنو ته د پنجابي خطاب کېږي. خو پښتو یوازې په ژبې پورې محدوده نه ده، هغه څوک چې پښتو ویلای شي، هغه پوره پښتون نه شي کېدی، بلکې سوچه پښتون هغه دی، چې د خپل ننګ او ناموس د ساتنې لپاره خپل سر هم قربانوي، سخاوت لري، د نورو لاسنیوی کوي، ژمنه او قسم نه ماتوي، خپل ځانګړي کلتوري ارزښتونه ساتي.

"که پښتو یا بله هره ژبه هرڅومره تاریخي قدامت او لرغونتوب ولري، لري به یې، د ژبې اوسنی حالت باید په پام کې وساتل شي.

د ژبې پر لرغونتوب او قدامت باندې ډېر ټینګار به ډېرې جدي او علمي خبرې نه وي، ضروري خبره دا ده، چې د دې ژبې اوسني او راتلونکي منظر ته جدي پام وشي ".(11)

هسې خو زیاتې ژبې شته او وي به، چې یو وخت به په یوه لویه وچه کې ویل کېده او زیات لرغونتوب به یې هم درلود. خو د وخت په تېرېدو سره له منځه تللې ده .

څرګنده خبره ده، د هرې ژبې ویونکي چې خپله ژبه له لاسه ورکړي، خپل کلتوري ارزښتونه هم له لاسه ورکوي، غوره بېلګه یې په هند کې په ملیونونو مېشت پښتانه دي، چې له خپل نوم سره یوازې (خان (لیکي، خو نه یې خپله ژبه زده ده، نه هم ورته ارزښت لري. ان چې بوداییزم او هندوییزم پالي.

په پښتو کې د داسې کتابونو ژباړې ته اړتیا ده، چې په کلتوري برخه کې زموږ له ټولنې سره ټکر ونه لري، د انقلاب په کلونو کې پښتو ته داسې روسي کتابونه راوژباړل شول، چې له ټولنې او د ټولنې له روحیاتو سره یې هېڅ سمون نه خوړ، اوس هغه کتابونه د وخت په تېرېدو سره د تاریخ کندې ته ولوېدل، د خلکو زړونو ته یې لار ونه موندله.

"یو شمېر ژبې د خپلې بشپړتیا او لوړې وړتیا له امله د زماني په زړه کې د مختلفو عواملو او یا د ودې د قانونمندۍ له مخې په نورو ژبو او یا زماني حالاتو کې یا خورې شوي او یا هم له منځه تللې دي. لاتینې په څه ډول برخلیک اخته شوه، سانسکرېټ ولې اوس "کلاسیکه "ژبه شوه، په اریایي ژبو کې "اوېستا "ولې له خپلو همزولو ژبو (پښتو- پاړسي) سره تر ننه راونه رسېده؟ "(12)

د یونسکو د کتنې له مخې پښتو هم په هغه ژبو کې شمېرل شوې، چې په راروانو کلونو کې به له منځه ځي او ویونکي به نه لري. دا په داسې حال کې چې محمدګل خان مومند ، کابل د پښتنو هدیره ګڼلی و ، خو زه هرات هم د پښتنو بله هدیره ګڼم. هلته د پښتنو خپلې- خپلې څو ولسوالۍ شته، چې یوه یې پښتون زرغون نومېږي او زه خپله په کې زیات وګرځېدم، ما په ټوله ولسوالي کې ولیدل، چې یوازې له څو کوچیانو پرته، بل چا په پښتو خبرې نه شوای کولای. همدا به یې ویل: من به پشتو بلد نییم.

په کابل کې هم اکثریت پښتانه دي، خو په ښار کې د ننه تر 50 سلنې زیاتو پښتنو خپله ژبه هېره کړې ده، هم یې کلتوري ارزښتونه بایللي، څکه چې جامې، دود و دستور یې هم د ښاریانو غوندې کړي دي. یوه بل استاد ویلي وو :پښتانه هغه خلک دي، چې په ښارونو کې ځانونه ورته کلیوال ښکاري، خو په کلي کې ورته ځانونه ښاریان.

یو خو مشرتابه په شعوري توګه غواړي چې پښتانه تر یو ډول کلتوري حاکمیت لاندې وساتي، له دې کبله هغه پښتانه چې په پښتو نه پوهېږي، ډېر نازوي هم .په دې وروستي اړ و دوړ او الهګولو کې خو زیاتو پښتنو د مرګ له وېرې داسې تذکرې واخیستې چې تاجک معرفي شوي وو. له بده مرغه اوس بیا هم دغه کلتوري حاکمیت ژوندی دی او زیات پښتانه ځانونه تاجکان معرفي کوي.

په هرات کې خو د ایران مضر کلتوري ستم واکمن دی، هغه څوک چې په لومړي ځل هرات ته ورځي، ګومان کوي د ایران کوم ایالت ته ورغلی دی. خبرې- اترې، لوحې ګڼه او نوره راکړه ورکړه په ایرانۍ ژبه او ایراني دود سره ترسره کېږي.

ان چې هلته د پښتو څرک نه هم نه ترسترګو کېږي، یوازې یوڅو د ګوتو په شمار لوحې په پښتو ترسترګو کېږي، چې هغه هم له پخوا څخه پاته دي. منل شوې ملي ټرمینالوژي خو قصداً له منځه وړل شوې ده، د درملتون پرځای اکثره ځایونه دواخانه لیکل شوې، د مارکېټ پرځای پاساژ، چې ښایي د هرات لس فیصده خلک هم وربانده پوه نه شي. څه موده وړاندې مې د اطلاعاتو او کلتور له رئیس سره ځانګړې ناسته

درلوده، ما ترې وپوښتل چې په هرات کې ولې د پښتو خپرونو څرک نه ترسترګو کېږي؟
هغه وويل: مونږ شل فيصده ونډه ورکړې، خو ما پر مېز باندې پراته اخبار ته اشاره وکړه، چې ولې يو ټکی پښتو هم نه لري؟ هغه د خپلو ورپېښو ستونزو يادونه وکړه.
دا ټولې هغه ستونزې وې، چې د يوه چاروا کي لپاره به ورپېښېدې، ايران د خپلو کلتوري ارزښتونو د دودونې او پراختيا لپاره په مليونونو ډالره لګوي او په سيمه کې زيات تخريباتي عمليات ترسره کوي. دغه هېواد له ځو لسيزو راهيسې همدا هڅه کوي، چې افغانستان د ايران اړونده خاوره وښيي، په دې برخه کې يې زيات کتابونه هم خپاره کړي او اوس هم د (خراسان) خوبونه ويني، همدا اوس ايران او د ايراني مفکورې درلودونکي تاجکان په انټرنټ کې دومره مضر مواد خپروي، چې د پښتنو سپکاوی او د يراني کلتوري ستاينه په کې شوې ده.
"د يوې ټولنې د ليکوالو د اثارو په لوستلو سره موږ ته د هغې ټولنې کلتوري او ذوقي کچه، همدغه راز ژوندود راڅرګند ېږي ".(13(
خو پر پښتو توره ورځ ځکه راغلې، چې له هر سياسي او نظامي اوښتون يا بدلون سره سم يې د له منځه وړلو کوښښ شوی، د پښتو د غني فولکلور لپاره هم پلانونه سنجول شوي، چې مسخ شي. پښتني کلتور په يو نه يو ډول، منفي معرفي کړي. ويې غندي او سپکاوی يې وکړي. پر همدې موضوعګانو يوشمېر کتابونه هم خپاره شوي، دغه ډول کتابونه زياتره په ايران کې د هغو افغانانو له خوا خپاره شوي، چې ملي ضد او پښتني ضد مفکوره لري. ايران ان ځينو پښتنو ليکوالو ته هم ښې غوړې پروژې په ګوته کړې، چې هم پښتانه، پښتو او پښتني -کلتوري ارزښتونه بدنام کړي. هم له دې لارې ځان ته پيسې وګټي.
نړيوال به د دغه ډول اثارو په کتلو - لوستلو او څېړلو سره پښتانه څنګه وپېژني. د غرب زيات کليوال چې کله د افغانستان يا پښتونخوا په اړه څه ليکي، نو خامخا به د پښتنو ژوند ، کلتور، ژبه او ارزښتونه هم يادوي. دوی اکثره پښتانه د منفي کرکټر په توګه پېژني او عقيده لري چې دغه خلک له تعليم او سواد څخه محروم- قبيلوي خلک دي، چې نه کوم مشخص کلتور او دود و دوستور لري. نه يې هم د ژبې قدامت شته.
زياتره بهرني ليکوال چې کله غواړي د افغانستان د اتنيکي (قومي) جوړښت، دود ، کلتوري رواجونو او روايا تو په اړه څېړنه وکړي، نو د پوهنتونونو ښوونکو ته ورځي، په ځينو پوهنتونونو کې داسې ښوونکي هم درس ورکوي، چې ځانګړې سياسي ايډيولوژي، موخې او تکلونه لري، چې يو ستر هدف او د زياتو کلونو ارمان يې له پښتنو سره ضديت دی. ځينو ښوونکو هر وخت د پښتنو پرضد حساسيت ښوولی او د هرات �کابل له پوهنتونونو څخه يې پښتو ښخي ختمه کړې ده. څو کاله وړاندې چې د کابل پوهنتون مجله په پښتو او پارسي خپرېده، پر زياتو کسانو اورلګېدلی و ، چې په دې مجله کې ولې پښتو ليکنې راځي، خو دوی بندولای ځکه نه شوه، چې د مجلې لګښت په بهر کې د مېشتو فرهنګيانو له خوا ورکول کېده.
يوه بل تاجکستاني ليکوال په خپل يوه پرېړ او پنډ کتاب (مقام تاجيکان در تاريخ افغانستان) کې چې هره کرښه يې له افغان او افغانستان سره د حساسيت او ضديت څرګندويي کوي، پښتانه له غرونو او رغونو څخه راتويې شوې قبيلې ګڼي، چې د ليکوال په اند ستره دنده يې لوټماري، غلا او شوکماري وه. دغه خلک يې په کلتوري لحاظ ټيټ او پست معرفي کړي دي.
دومره کلتوري ارزښتونه او معيارونه چې په پښتو او پښتنو کې شته، په ډېرو لږو کامونو کې موندل کېږي. په کوم کام کې تر شريعت وروسته ناغه شته؟.
په کوم کام کې جرګه او مرکه شته؟.
په کوم کام کې د مشرانو له خوا د روغې جوړې نه ماتېدونکي څلي او نرخونه جوړ شوي ! پښتانه غني کلتور لري او غني خو به ځکه وي، چې زيات کلتوري مسايل يې له اسلام سره په ټکر کې نه دي.
پښتانه ځانګړې کالي، ځانګړې رزمي نڅا (اتڼ)، ځانګړې ليکدود، ځانګړې دود و دستور لري، چې هر ارزښت يې د وياړ او افتخار يو ستر باب دی .مخالفين خو به يې خود د ورکاوي او تتولو کوښښ کوي، چې له دغو ارزښتونو بې برخې دي .که چېرې د اوسني پښتني نسل سترګې خلاصې نه شي او په پښتو ، پښتنو ، پښتني کلتور، پښتني ادب، پښتني فولکلور او پښتونپالنې پوه نه کړای شي، په نورو کلتورونو کې به ورک او نوم به يې د تل لپاره د نړۍ له منځه ورک شي. زما په نظر پښتني ضد کتابونه او ليکنې هم بايد پښتو ته وژباړل شي، چې پښتانه يې ولولي او د مغرضو انسانانو په موخه ځانونه وپوهوي. که چېرې ځينې پوهان او روڼاندي دا کار مضر ګڼي، نو لږ ترلږه دې په نورو ژبو لاسبري او ماهر کسان، دغه ډول ليکنې ولولي. هغه مهم ټکي دې ترې راوژباړي .يوه- يوه کاپي دې لويو ليکوالو ته ولېږي، چې هغوی يې ځواب وليکي، ځکه تر دې ګړيه چوپې خولې کومه نتيجه نه ده ورکړې، ټول پښتانه د پښتو او پښتنو پرضد له ليکل شويو او خپرو شويو ليکنو ، کتابونو او رسالو څخه ناخبره پاته شوي، چې دغه غفلت او ناخبري دوی ته په زيان ده.
يوه روسي ليکوال ايتماتوف په خپله يوه مرکه کې ويلي وو:
"هر ادبيات که غواړي پرمختګ وکړي، بايد په ټينګو ايډيالوژيکو اصولو يې لاروښوونه وشي، يوازې له همدې لارې پر خپلو تشو (خلاګانو ) غلبه کولای شو او له فکري محدوديتونو رابهر کېدی شو. فکري محدوديت د انسان پرديتوب دی ".(14(

په هغه ټولنه کې چې انساني پردیتوب او کلتوري خلاوې زیاتې وي، ملت جوړونه او ملي یووالی هم له ګواښ سره مخ وي، کلتوري څرنګوالی د یوه هېواد د ملي هویت، ملي مفکورې، عقیدې او اند و هاند څرګندوییې کوي.
ستونزې او کړاوونه خو په هره برخه کې شته او هېڅ کار له زیار یا کړاو پرته پرمخ نه ځي، هغه کار او هاند ښه لاسته راوړنه لري، چې اشخاص پرې ژور سوچ وکړي او له عقل څخه مرسته وغواړي.
"په لویدیزه (غربي) نړۍ کې د عمومي ابلاغ یا د ډله ییزې مفاهمې موسسې د پانګه والو په پانګو چلېږي، نو باید پانګوالو ته لړې یا ډېرې، مادي ګټې ورسوي ".(15)
پانګوال هم باید له خپل کلتور، ژبې او ملت سره اشنا شي، چې د پالنې لپاره یې قربانۍ ته تیار شي. د کلتوري انحرافاتو او پر پښتو باندې د کلتوري سپکاویو مخه هغه وخت نیول کېدی شي، چې عام ولس پر خپلو کلتوري ارزښتونو وپوهول شي او هغه د چا خبره سترګې یې خلاصې شي، لومړی خو باید خلک د سواد له نعمت څخه برخمن شي، بیا دې ډله ییزې رسنۍ: ورځپاڼې، مجلې، راډیوګانې، ټلویزیون او نور مطبوعات زیات کړل شي .
ښایي دولت او حکومت د دغه کار د ترسره کولو وس ونه لري، یا هم ترې اوږه خالي کړي او غاړه ورته کنښېنږدي. خو که شخصي ټولنې، ارګانونه او انجمنونه د پښتني کلتور د ساتنې لپاره یو لړ خپرونې پیل کړي، ګټه به یې ډېره زیاته وي، ځکه چې دغه خپرونې تر هره ځایه رسېدی شي، هرڅوک یې لوستلای شي او ښه ترا وربانډې پوهېدای شي، ځکه چې عام ولس په خپله ژبه د خپل کلتور له اړخونو خبرېږي.
همدا اوس عام ولس چې تل د نورو ژبو د ویونکو، پنجابي ښکېلاک او پارسي ژبېښاک له خوا رټل شوی، سپک شوی او کوټل شوی، ډېره تنده لري، چې په خپله ژبه څه ولولي، ولس له خپلې ژبې، کلتور او ادب سره بې کچه مینه لري.
که هر څومره د پښتو د ورکاوي او سپکاوي لپاره ځینې کسان استخدامېږي. معاشونه ورکول کېږي او طرحې په لاس کې ورکول کېږي. خو پښتانه بیا هم د هر تاړاک، اوښتون او ځپلو له کبله لا ویښېږي، ځکه چې پښتانه له پښتو ژبې او پښتني کلتور پرته بل الترناتیف یا بدیل نه لري. لاس که ماتېږي غاړې ته لوېږي، پښتون که سپکېږي، پر کلتوري ارزښتونو یې ملنډې وهل کېږي، همدغه پښتانه یې باید د ژغورنې لپاره متې رانغاړي.
په پښتو کې باید د نورو هېوادونو په کلتور پورې اړوند کتابونه و ژباړل شي، چې د هغوی له غوره تجربو څخه ګټه پورته شي او منفي اړخونو ته یې په پام سره پښتني کلتور ته بیا کتنه وشي، همدغه راز یې سمونه وشي .

## په ادبي ډګر کې

پوهانو د ادب په اړه خورا زياتې نظريې او تيورۍ وړاندې کړې، لکه څنګه چې د فلسفې په اړه يوه منل شوې او په ټول پوره مانا او تعريف نه دی ټاکل شوی، همدغسې د ادب د پېژند (تعريف) په برخه کې هم پوهان او د نظر خاوندان په يوه خوله نه دي. اروابناد پوهاند رښتين وايي:
"ادب هغه فن دی چې د پاکو احساساتو په خوځولو سره د ټولنې خلک د خير پر لورې بيايي او دوی ته د خير مانا ورښيي ".(16)
د ادب ډګر پراخ دی، په هره برخه کې يې د ټولنې عمومي مفکوره او د خلکو غوښتنې ځای شوي، چې پالنه او وده يې د ټولنې د لا ځلا لامل ګرځي.
د نولسمې پېړۍ په پای کې چې کله د ازاد شعر سرچينې له اروپا څخه ايران او بيا افغانستان ته را وغزېدې، ورسره په پښتو کې د شعر او نثر د ودې او لا ښه والي يو داسې غورځنګ رامنځته شو، چې پښتو شعر او پښتو هنري نثر يې تر نورو دورو لا ممتاز او غښتلی کړ.
په شلمه پېړۍ کې هم دغه پرمختيايي بهير ښه روان و، خو د جګړو په وخت کې چې کله سياسي قدرتونو د يوه بل ځواک په بلهارۍ او قربانۍ واک تر لاسه کړ، نو خپله انرژي يې پر دې هم لګوله چې د قومي تفرقې او تضاد له مخې د پښتو او پښتنو د پرمخيون او پرمختګ مخنيوی وکړي، ځکه دوی ته څرګنده وه، چې د اريايي ژبو په دې کورنۍ کې ستري زېرمې او پانګه شته، چې که رابرسېره شي او وځلول شي، ښايي زياتې نورې ژبې هم تر اغېزې لاندې راولي او وګړي به يې هم ځانونو ته ځير شي.
په تېرو دېرشو کلونو کې پښتو ته د ژباړې بازار هم ښه تود شو، خو له بده مرغه چې اکثره کتابونه چې و ژباړل شول، ځينې يې له روسي ژبې څخه وو، چې سياسي مفکوره او ايډيولوژي په کې ساتل شوې او پالل شوې وه.
په دې وروسته کلونو کې ښايسته ډېر ګټور کتابونه پښتو ته راوژباړل شول، چې له ګټو څخه يې سترګې نه شو پټولای.
د پښتو هنري نثر د لا ښه اينې لپاره ژباړه يوه ستره اړتيا ده، بايد چې د نورو ژبو غوره ناولونه، شهکارې-لنډې کيسې، يونليکونه، ادبي ټوټې، شعرونه او نور توکي راوژباړل شي.
يو وخت چې پښتو هنري نثر خپل لومړني پړاوونه وهل، نو خوړلنې او اغېز يې زيات نه و، که څه هم کره او سوچه وييونه په کې زيات وو، خو لا په بشپړ ډول دود شوي نه وو .
"د پښتو هنري نثر پيل خو تر پېړيو اوړي، خو په دويمه دوره (منځنۍ دوره/ د لسمې هجري پېړۍ له منځنيو څخه تر لومړيو دوو-درېيو لسيزو پورې) د همدغې دويمې دورې په وروستيو پړاوونو د پښتو نثرليکنې په جريان کې ځينې داسې تمايلات پيدا شول، چې پښتو نثرليکنه يې اصلاح کوله. پخواني روشونه يې پرېښودل او د نثرليکلو نوې او پرمختللې لارې يې خپلولې.
په دغو لومړنيو ساده پښتو نثرونو کې الفاظ پرېولي او ښکلي انتخاب شوي دي، په نثر کې رواني او ساده ګي ليدل کېږي ".(17)
بدمرغي دا ده چې ځينې کسان ګيله کوي: پښتو روانه او بشپړه ژبه نه ده، که چېرې د پښتو ساده، خو له مانا ډک وييونه رابرسېره او دود کړل شي، څرګنده به شي چې پښتو بشپړ ګرامري قواعد، کړنلار او تګلار لري، چې په نورو ژبو کې به يې ساری لږ وليدل شي. په يوه ژبه کې به هم، له عربي شعري فورمونو پرته څو مستقل شعري فورمونه نه وي، خو پښتو: سروکي، لنډۍ، متلونه، نارې، کاکړۍ غاړې، بګټۍ او .... لري.
که په نورو ژبو وژباړل شي، ښايي هغوی ترې زياته استفاده وکړي. دغه راز پښتو توري، چې د يوه مستقل او ځانګړې ليکدود څرګندويي کوي، لکه: ټ، څ، ځ، ڼ، ډ، ړ، ښ... او د) ی ګانو ) پنځه ډولونه، چې د هر اواز لپاره يوه (ی) لري.
د پښتو لومړني اثار چې ژباړل شوي او د پښتو له لومړنيو ژباړو څخه ګڼل کېږي، زيات دي. زيات استادان دغنچهٔ روه په وروستيو برخو کې (17 ) راغلي واړه حکايتونه يادوي، چې مولوي نور محمد نوري افغان په خوږه ژبه، په 1280هـ ق کال ژباړلي او موضوع يې فولکلور ده.
بل مخکښ يې د هشنغر د تنګي مولوي احمد (1216-1300هـ ق) يادوي. بله برخه يې د ادمخان او درخانۍ کيسه ده، چې په 1872م. کال، په لاهور کې چاپ شوې، دغه ډول ميا حبيب ګل، ميا محمد يوسف، قاضي ميراحمد شاه رضواني، قاضي رحيم الله، عنوان الدين کاکاخېل، غلام محمد پوپلزی، هانري جارج راورټي (1906-1825م) هم يادولای شو، چې په دې دوران کې د همدغو مخکښانو له خوا زيات کتابونه په ساده او روانه پښتو وژباړل شول، دغه ژباړل شوي پښتو کتابونه، د پښتو له لومړنيو هنري اثارو څخه ګڼل کېږي، چې اکثره يې د پښتو لومړنۍ ښېلګې دي او خپل ځانګړې ارزښت لري.
زموږ زياتو مخکښو ليکوالو خپل زيات ارزښتناک کتابونه په نورو ژبو ليکلي، چې يوازې د يوې طبقې خلک ترې ګټه اخيستلای شي، ځکه لوستې طبقه به د ژبې په لحاظ ورسره کومه ستونزه نه لري، خو د کوټې، پېښور او نورو پښتنې سيمو لوستونکي له پارسي سره بلد تيا نه

لري، دغه راز به په بره خوا کې بیا زیات کسان له اردو سره بلدتیا نه لري، چې له پښتو پرته نور کتابونه نه لولي .ان نور پښتانه بیا اړ شوي، چې د پښتو لیکوالو کتابونه په پښتو راوژباړي. یا هم په کوزه پښتونخوا کې زیات لیکوالان همدا اوس هم په اردو ژبه لیکنې کوي، چې فکر کوي، په دې توګه به زیات خلک ترې ګټه واخیستلای شي. خو باید یادونه وشي، چې دغه کار باید په هېڅ صورت کې ونه شي، پښتانه لیکوال باید سل په سلو کې په خپله ژبه کتابونه ولیکي او خپاره دې کړي، که نور څه نه وي، خپلې ژبې ته خو به یې یو اثر وړاندې کړی وي. موږ تر اوسه پورې داسې بېلګه نه لرو ، چې کوم پارسي ژبي یا اردو ژبي دې پښتو لیکنه کړې وي، نو پردي خلک چې د پښتو ویلو او زده کولو استعداد یا لېوالتیا نه لري، پښتانه ولې خپل راتلونکی نسل بربادوي او نورو ته ولې بې ګټې خدمت کوي؟

محمود طرزي تر ډېر څنډ وروسته په سراج الاخبار کې د پښتو ژبې پر ارزښت لیکنې وکړې، چې په دې کار سره ځینو کسانو له پښتو او پښتنو سره بلدتیا پیدا کړه، له دې کبله یې دا هم د یوه واحد ملت د ژبې په توګه وپېژانده. هغه د یوه پوه خبره هم ده، چې یو هېواد که ډېرې ژبې ولري، داسې مانا لري،لکه هغه هېواد چې څو خولې ولري، افغانستان 32 ژبې لري، چې ځینې ژبپوهان خو یې د ژبو زېرمه ګڼي. نو هغه کتاب چې یو پښتون یې په پښتو لیکلای شي، ولې په اردو ، پارسي یا بله ژبه ولیکل شي؟ که چېرې اړتیا پېښېږده، بل پښتون به اړ وي، چې په نورو ژبو دغه لیکل شوي کتابونه پښتو ته راوژباړي، چې په دې بهیر کې د دوو کسانو انرژي ضایع کېږي، خو ثمره به یې یوه او محدوده وي.

پښتو ته د هغو بهرنیو شعرونو ژباړه هم ضروري ده، چې د هېوادپالنې او ملي یووالي روحیه په کې غښتلې وي، ځکه زموږ د ادب دغه برخه به نوره هم بشپړه شي او په دې برخه کې چې کومه خلا ده، هغه به ډکه شي .

## په اسلامي ډګر کې

پښتو او اسلام سره تړلي د زنځير دوې کړۍ دي. هغه قوانين او قواعد چې اسلام يې لري، په پښتو کې هم شته او مني يې. د دې لپاره چې دغه مانيز (معنوي) اړيکي نور هم پياوړي شي او په خلکو کې اسلام لا غزونې وکړي، په کار ده چې په مسجدونو کې ماشومانو ته تدريسېدونکي کتابونه په پښتو وژباړل شي، البته هغه کتابونه چې په نورو ژبو دي .
زموږ زيات ملايان همدا اوس هم په کليو کې که قدوري، خلاصه او يا پنج کتاب تشريح کوي، ترجمه يې په پارسي يا اردو وي، چې نه يې زيات ښوونکي په پوره مانا پوهېږي، نه هم زده کوونکي. خو که چېرې دغه اسلامي کتابونه پښتو ژباړه ولري، هم به دغه ماشومان وربانديې ښه ترا پوهېږي، هم به زيات خلک ترې ګټه اخيستلای شي، لکه څنګه چې په دې وروستيو کې زما خواږه دوست ښاغلي جان محمد کاکړ قدوري او نور ظلم په پښتو ژباړلي، چې زيات هرکلی يې وشو، خو جان محمد کاکړ، بيا په دې د زياتې ستاينې او منښې وړ دی، چې په خپله لګښت يې خپاره کړي او په وړيا ډول يې وېشلي دي. دغه ډول نور کتابونه هم که پښتو ته واړول شي، هم به خدمت وي، هم ثواب.
زيات کليوال خلک لا خبر نه دي، چې پنج کتاب (پنج ګنج) د خلکو له خوا ليکل شوی، که نه د ايتونو ترجمه ده. څکه همدا اوس هم ځينې ساده خلک وايي: پاک خدای په پنج کتاب کې فرمايلي دي:

کريمای ببخشای برحال ما
که استيم اسير کمند هوا
يا هم د حديث او ايت توپير نه شي کولای، نو ځکه وايي: د پاک خدای يو حديث دی.؟!
که چېرې نوي اسلامي کتابونه جوماتونو ته لاره و مومي، له دغه ډول تدريسي- اسلامي کتابونو سره پښتو ژباړه هم مله شي، د عام ولس ستر ګې به هم روښانه شي، ملايانو ته به هم پوهونه اسانه شي، ځکه موږ اول مسلمان بيا پښتانه يو ، پښتو ترا اسلامي ارزښتونو ډېر اهميت لري، خو پر اسلام خبرتيا او په دې برخه کې مطالعه بايد هراړخيزه او په پښتو وي، چې دا دی اوس ځينو پښتنو دغه هڅه پيل کړې او هيله ده، چې دغه برخه نوره هم ځواکمنه شي .

## په هنري ډګر کې

د پښتو هنري برخه لکه: تياتر، فلم، سينما او ... کمزورې ده، په پېښور کې داسې پښتو فلمونه جوړېږي، چې يوازې يې موخه پيسې ګټل دي، دغه فلمونه غيراخلاقي، فاسد او په هنري لحاظ ټيټ دي، چې هېڅکله هم د پښتني کلتور او پښتني دود و روايتونو استازيتوب نه شي کولای. پښتو ډرامه خو يو وخت ښه په خوند سره روانه وه، چې زياتو استادانو وده ورکړې وه، خو دا وخت نه يوازې لږې ليکل کېږي، بلکې ژباړې يې هم نه کېږي.

"د پښتنو يوه بله ډېره لويه غميزه د فلم او ډرامې نشتوالی دی. زه دا هم نشتوالی ګڼم، چې شته څه زما په درد نه خوري، پښتو سينما نن ورځ په داسې يوه حالت کې ده، چې سړی يې په نوم يادولو شرمېږي او په دې کې هېڅ شکه نه شته، چې: يو له هغو وسايلو څخه چې د يوې ژبې له انکشاف سره مرسته کوي، هغه فلمي صنعت دی، دا وسيله د ټولنې له روزنيزې برخې سره هم بې ارتباطه نه ده، خو روزنيزې اغېزې يې هغه وخت مطلوبې نتيجې منځته راوړي، چې د فلم ژبه يې خلکو ته اشنا وي ".(18)

دا مهال بهرني ټلويزيوني چينلونه دومره زيات دي، چې 24 ساعته خپرونې لري، چې زيات خلک يې ځان ته رامات کړي، دغه بهرني چينلونه يوازېنی کار دا کوي، چې خپله ژبه زياته ترشعاع لاندې نيسي او غواړي د نړۍ په هر ګوټ کې يې دود کړي، ويونکي يې زيات کړي او پراختيا ورکړي.

په روسي چينلونو کې اکثره اروپايي او نور انګرېزي فلمونه په روسي ژباړل کېږي، چې يو ټکی انګرېزي هم نه خپروي، دغسې انګرېزي چينلونه بيا نورو ژبو ته وخت نه ورکوي. بلکې زيات هنري فلمونه په خپله ژبه ژباړي. ځکه هغوی د خپل هېواد د ژبو ويونکو ته په پام سره خپرونې کوي. هلته هېڅکله هم دغه اړخ له پامه نه غورځول کېږي .

زيات پښتانه اړ دي، چې همدغه بهرني او هغه کورني چينلونه وګوري، چې د دوی په ژبه نه دي، پر دوی باندې بهرنۍ ژبې هم اغېز کوي، زياتو ماشومانو يې پښتو هېره کړې ده او پېژني يې لا نه.

که څه هم په کابل کې ځينې هندي فلمونه پښتو ته راژباړل شوي، خو د څومره والي له مخې لږ دي، بل دا چې اکثره يې 20-25 کاله پخوا ژباړل شوي، چې اوس ننداري ته وړاندې کېږي، له اوسني وخت، اوسمهالو غوښتنو او حالت سره سمون نه خوري. بلکې زړې کيسې کوي. په اردو کې اوسني انګرېزي يا د نورو ژبو فلمونه دوبله کېږي، سړی هېڅ ګومان نه کوي، چې دا دې په بله ژبه جوړ شوی فلم وي، دوی له ښېرو او قوارو سره سم اوازونه ټاکي او د فلمي کرکټرونو د خولو له خوځولو سره سم متن ليکي، بيا يې ژباړه لولي، همدغه راز نور اوازونه هم ورسره يوځای کوي، چې څوک ګومان ونه کړي، دا د بلې ژبې فلم دی.

په کار ده چې پښتو ته هم دا ډول فلمونه راوژباړل شي، که څه هم تراوسه کوم پښتو چينل نه شته، چې دغه ډول فلمونه خپاره کړي، خو که بازار ته وايستل شي، ډېر رانيوونکي به ولري او ښه بازار به پيدا کړي. ځکه خلک ورته تنده لري او غواړي چې په خپله ژبه، بهرني شهکار فلمونه وګوري .

## په پښتو خپرونو کې د ژباړې اړتیا

د نړۍ زیاتې خپرونې د ژباړې په برخه کې هڅې کوي، چې دغه برخه ان په خپلو خپرونو کې هم ځواکمنوي او کوښښ کوي چې په خپله هره خپرونه: مجلو، ورځپاڼو او جریدو کې د پام وړ برخه ورکړي. دوی د نړۍ حالات، سیاسي پېښې، سایسنې پرمختګونه او نورې شننې په خپله ژبه راژباړي او خپروي یې. که څه هم هغوی په دې بخره کې اړ نه دي، چې دواړه متنونه سره څنګ تر څنګ کښېږدي او ژباړه وکړي، بلکې هلته د کمپیوټري پروګرامونو په مرسته لیکنې ژباړي، چې یوازې په ژبنیو قاعدو کې یې لاسوهنې، سمونې او زیاتونې کېږي، ګونګ ټکي یې لیرې کېږي او ځینې پېچلې جملې یې بدلېږي رابدلېږي، ځکه چې په ژباړل شوي متن کې کومه پېچلتیا پاتې نه شي.

ځینې استادان ځکه وایي: "ژباړن باید مقابلې د لیکنې پر ټولو اړخونو پوه وي، ګونګ مسایل باید ورته پاتې نه شي". دا خو زموږ غوندې د وروسته پاتې ژبې ویونکو ته ښایي چې اصل متن څو څو ځلې ولوستل شي، بیا دې د ژباړې لپاره تیاری ونیول شي.

په پښتو خپرونو کې باید ژباړه زیاته شي، ځکه چې څو ګټې لري:

افغانان په یو اضطراري حالت کې ژوند کوي، چې د نورو ټولنو اپه شان د ژوند له لومړنیو اسانتیاوو څخه هم بې برخې دي، دوی ته باید نوي او تازه مواد له نورو ژبو څخه وژباړل شي، بیا دې د خپرونو له لارې ورورسول شي. چې هم د وخت د بېځایه ضایع کېدو مخنیوی کېږي، هم دوی د نړۍ له پرمختللې کاروان څخه خبرېږي او ځان ورسره عیارولای شي.

افغانان خوار او غریب خلک دي، چې د پوهنیزو کتابونو د اړانیولو وس نه لري، کېدی شي یوه خپرونه ډېرې غوره لیکنې ولري، چې ژباړل شوې وي، چې په یوه خپرونه کې پر بېلابېلو موضوعګانو لیکنې راځي، په دې توګه د زیاتو کسانو له ذوق او خوښې سره سم مضامین په کې موندل کېږي.

خپرونې تر ډېرو سیمو پورې رسېږي، اځکه چې خپرونکي یې هڅه کوي، خپله خپرونه تر لیریو پرتو سیمو پورې ورسوي، نو که څوک هڅه وکړي، هره خپرونه ترلاسه کولای شي. اوس خو یوه دا قاعده هم راوتلې ده، چې ځینې خپرونې د خپلو خپرونو د هرې ګڼې لیکنې په انګرېزۍ کې هم چاپوي، چې بهرنیان پوه شي، په دې خپرونه کې کوم مواد چاپ شوي دي.

د ژباړو له لارې د بهرنیانو تجربې او لاسته راوړنې له هېوادوالو سره شریکېږي، په ځانګړې توګه دې هغه کسان زیاتې ژباړې وکړي، چې له بهرنیو ژبو سره پوره بلد وي او یا هم اسانتیاوې یې لري. تر هېواد دننه زیات ځوانان له پوهنیزو لیکنو سره مینه ښیي، داسې زیات ځوانان مو هم لیدلي، چې په خپرونو کې یوازې ژباړې لولي.

خو د دې تر څنګ زیات کسان ټینګار کوي، چې: "په خپرونو کې دې د ژباړه کچه راټیټه شي او یا دې هم هېڅ نه خپرېږي، بلکې د هغوی پرځای دې د هېوادنیو لیکوالو لیکنې راشي، چې زموږ له ټولنې سره سمون خوري."

خو که چېرې ژباړه نه وای، موږ به د نړۍ ستر پوهان، فلسفیان، ادیبوهان، دیني مشران او نور نابغه نه پېژندلای، موږ به نړۍ کې هغه وخت خپل موجودیت او شتوالی مطرح کولای شو، چې د نورو ژبو له پوهانو او د هغوی له فکرونو څخه خبر شو، یا هم ځانونه د هغوی په کتار کې ودروو. په دې منځ کې ژباړه د یوه پول رول لوبوي، چې ملتونه سره تړي.

## ژباړن باید څوک وي؟

په نوره نړۍ کې د ژباړې لپاره منظم ارګانونه شته، چې ارزښتمن کتابونه ژباړي او په لوړ تیراژ یې خپروي. هلته ژباړن د خپل مسلک، پوهنیز مهارت او ذوق له مخې کتابونه ټاکي، یا یې هم خپرندوی ارګان ورته په ګوته کوي. خو زموږ ستونزه دا ده، چې تر اوسه یو خپرندوی ارګان یا ټولنه نه لرو، چې په پراخه پیمانه پښتو کتابونه، راخپاره کړي. ژباړې ته خو له زیاته وخته پاملرنه نه ده شوې، که شوې هم ده، خلکو له ژباړن څخه زیاتې بېځایه غوښتنې لرلې دي.

د ساري په توګه: هغه څوک چې له ادبیاتو سره مینه لري او پښتو ناولونه ژباړي، ورته ویل کېږي: په پښتو کې ناولونو ته هېڅ اړتیا نه شته، ته باید یو قاموس ولیکې، یا د بل لوی علمي کتاب ژباړې ته ګونډې ووهې، چې ګټه یې زیاته ده!!

که چېرې ژباړې د هر ژباړن د ذوق او خوښې له مخې وشي، پایله به یې زیاته غوره وي، که یو ادیب یا د ادبیاتو لېوال کس مجبوروو چې یو علمي قاموس وژباړي، یا یې ولیکي، ښایي د یوه بل پوه او په دې مسلک کې د وارد کس په کچه یې ښه ونه ژباړي.

په هره برخه کې خلک شته، چې د خپل مسلکي مهارت او ذوق له مخې یوه هڅه و هاند کوي. که د کیمیا استاد یو کتاب ولیکي، یا یې وژباړي، ښایي زیات معیاري یې وژباړي، خو که یو ادیب اړ کړو، چې د مثلثاتو یو کتاب وژباړي، نو ښایي زیاتې تېروتنې ولري.

که ډاکټر د طب اړوند کتاب ولیکي یا وژباړي، هم به د زیاتو نیمګړتیاوو مخه نیول کېږي، هم کېدی شي په کتاب کې پخوانۍ تېروتنې او غلطۍ اصلاح شي. ښایي ځینې داسې ډاکټران هم وي، چې له ادبیاتو سره مینه لري، هغه که د ادبیاتو اړوند کتاب لیکي یا په دې برخه کې بل ادبي کار ترسره کوي، باید مخه یې ونه نیسو. ځکه چې دا د ذوق او تندې خبره ده، هرڅوک کولای شي، له خپل ذوق او خوښې سره سمې لیکنې وکړي.

لیکوال او ژباړن ته باید موږ قاعدې او معیارونه وړاندې نه کړو، باید پرېښوول شي، چې هر کس په خپله خوښه یوه څانګه وټاکي، کتابونه په کې ولیکي او یا یې وژباړي. په دې شرط چې وضعه شوي اصول او تیورۍ له پامه ونه غورځوي.

په دې وروستیو کلونو کې چې دولتي ټولنې او پښتو منځي (مرکزونه) نه شته، نو اکثره لیکوال مو په انفرادي ډول فرهنګي او ادبي هڅې کوي، چې په زیاتو خپرونو کې هم ځوان لیکوالان ژباړې او لیکنې کوي. له بده مرغه چې اکثره کسان چې کله کومه لیکنه راژباړي، نو د لیکوال نوم نه یادوي، چې دغه کار د ژباړې له اصولو او قاعدې بهر کار دی، سړی د هرې لیکنې تر لوستلو وړاندې باید پوه شي، چې لیکوال یې څوک دی؟ بله دا چې موږ اکثره ځایونه وینو چې ماخذ هم نه ښکاره کیږي، سړی نه پوهېږي چې دا لیکنې له کوم کتاب څخه ژباړل شوې، له انټرنټ څخه اخیستل شوې او که لا خپرې شوې نه دي؟ ځوان لیکوالان باید کوښښ وکړي، د ژباړې په وخت کې د لیکوال نوم او ماخذ هم له یاده ونه باسي. بله دا چې ځینې لیکنې او کتابونه له انګرېزۍ یا بلې ژبې څخه اردو یا پارسۍ ته راژباړل شوي، کله چې یې زموږ ځینې ژباړونکي پښتو ته اړوي یوازې د لیکوال نوم لیکي، حال دا چې اردو یا پارسي ته ژباړونکي هېڅ نه یادوي، چې دغه دا هم خلاف کار دی.

باید د لومړي ژباړن پر هڅو سترګې پټې نه شي، لومړیخو دې هڅه وشي، چې راساً له اصلي ژبې څخه ژباړه وشي، که امکانات وو، د لومړي ژباړن یادونه حتمي ده، ځکه هغه هم خپله خواري کړې ده، بویه چې سترګې پرې پټې نه شي .

ژباړه د څلورو اصلونو د یوځای کېدو ټکی دی:

_لیکوال.

_لیکنه.

_لوستونکي.

_ژباړونکی.(19(

ژباړن ته په کار ده، چې پر دواړو ژبو ښه برلاسی وي او په لوستلو، خبرو او لیکنه کې هېڅ ستونزه ونه لري .

زیات کسان ټکي په ټکي ژباړه کوي، چې اکثره ژباړل شوې جملې یې اوږدې، مبتدا او خبر یې سره وړاندې وروسته، یا هم ګډوډ راځي، چې ښه بېلګه یې د ملایانو له خوا لیکل شوي کتابونه دي. هغوی په دې باور دي، چې دیني کتابونه، ایتونه او حدیثونه باید ټکي په ټکي وژباړل شي، کنه ګناه لري. خو د ژباړې اصلي موخه د خلکو پوهونه او له اصلي ژبې څخه بلې ته د مفهوم لېږدونه ده. که ژباړه څومره له اصلي ژبې سره نژدې، روانه او ښکلې وي، هومره زیات لوستونکي پوهولای شي او زیات کسان ترې ګټه اخیستلای شي.

بله ژباړه مفهوم په مفهوم ژباړل دي، چې دا یو غوره طریقه ده او که ژباړن غواړي، چې بریمنه او ګلالۍ ژباړه وکړي، باید مفهوم په مفهوم ژباړه غوره کړي. د اصلي متن یو پراګراف دې ولولي، بیا دې په خپله ذهن کې د خپلې ژبې له اصولو او قواعدو سره پرته کړي، تر هغه وروسته

دې ولیکي. چې د ژبارې اغېز ونه لیدل شي، کامیابه ژباړه هغه ده چې په لوستلو سره یې سړی ګومان ونه کړي، چې دا هم ژباړل شوی متن دی. د ژباړ لپاره امانتداري هم ارزښتمن رکن دی، ځکه چې ژباړن حق نه لري، په ژباړه کې بېځایه زیاتونې یا کمونې وکړي، که چېرې زیاتونې یا کمونې ته اړتیا پیښېږده، دغه کار دې په لمنلیک کې وکړي او یادونه دې هم وکړي .

استاد نجیب منلی، چې په فرانسه کې مېشت دی او هورې پښتو لیکنې په فرانسوي او فرانسوي لیکنې هم پښتو ته راژباړي، د ژباړې په برخه کې خپله ځاني تجربه له موږ سره شریکوي، راشئ چې موږ هم ترې ګټه واخلو:

..."تر هرڅه دمخه د لیکوال او په تېره بیا د ژباړن لپاره د نورو لیکوالو د لیکنو لوستل او په ژبنیو ځانګړتیاوو یې فکر کول، د لومړنیو ضرورتونو په کتار کې راځي .

د دې په څنګ کې دا هم باید په پام کې ونیول شي، چې ژبه له نورو (او زموږ په ټولنه کې له نالوستلو خلکو ) څخه زده کېږي. وایي خدای انسان ته یوه خوله او دوه غوږونه ددې لپاره ورکړل، چې یوه وکړي او دوه واوري. دا مقوله له نورو انسانانو څخه لا ښه پر لیکوالو او ژباړونکو تطبیقېږي ".(20(

که تازي ژبه هر ګوره ښه ده
پارسي هم ښه په خوند خوږه ده
چا یې پلو لـه مخ وانه خیست
پښتو لا هسې بکره پرته ده
خوشال بابا

## په ژباړه کې ځراکت

هر ژباړن به په خپل کار کې مسلکي تجربه نه لري، اکثره کسان د خپل ذوق له مخې ژباړه کوي، چې دغه کار ښه پایله هم ورکړې ده، ځکه زیات پوه او د لوړو زده کړو خاوندان لیدل شوي، چې سمه ژباړه نه شي کولای. ځینې کارپوهان په دې عقیده دي:
که سړی نورې ژبې زده کوي، نو اړ دی چې ترڅنګ یې خو نورې ژبې هم زده کړي. دوی د پاړسي مثال ورکوي، چې 40٪ عربي په کې ګډه ده. هغه څوک چې غواړي پاړسي زده کړي، باید عربي هم زده کړي. یا هغه کس چې غواړي اردو ژبه زده کړي، اړ دی، چې عربي، انګرېزي او ... هم یادې کړي، چې دغه ستونزمن کار، خورا زیات وخت او زیار ته اړتیا لري.
د پښتو ژبې نېکمرغي په دې کې ده، چې سوچه توب لري، په کار ده چې دغه کره والی یې وساتل شي، نه دې دومره افراط وشي، چې خلک قاموسونو ته اړتیا پیدا کړي، نه دې دومره ساده شي، چې هغه ټول اصول او ژبني قواعد یې مات کړای شي، بلکې منځنۍ لار یې غوره ده.
یو شمېر کسان چې ژباړه کوي، د پښتو د متقابلې ژبې له ژبنیو اصولو، قواعدو، ګرامر، نحو او نورو اړخونو سره زیاته بلدتیا نه لري، د ساري په توګه په جرمني کې د یوې کوچنۍ پېغلې انځور چاپ شوی و، چې په پاړسي کې ترې لاندې لیکل شوي وو) :دختر افغان) خو په پښتو کې بیا په (د افغان لور) ژباړل شوی و، چې اصلي ژباړه یې) افغانه نجلۍ) کېده.
یو پښتو ناول په اردو ژباړل شوی، چې د غوییي لاندی (د غوییي وچه غوښه) په (ګای کي نیچې) یانې (تر غوییي لاندې) ژباړل شوی.
بله ستونزه ده چې یو شمېر کسان ټکي په ټکي ژباړه کوي، موضوع ته نه ګوري، د ساري په توګه:
_در قسمت های اخیر شهر دیده میشد که مردم دور هم جمع شده اند.
_په اخرو قسمتونو کې د ښار زیات خلک لیدل کېدل، چې سره راغونډ شوي دي. (ناسمه(
_د ښار په وروستۍ برخه کې د خلکو ګڼه ګوڼه زیاته وه. (سمه(
_در بین انها اوازه بود، که امروز باران خواهد بارید.
_په مابین کې د هغوی اوازه وه، چې نن به باران اوري. (ناسمه(
_په هغوی کې ګنګوسی و، چې ښایي نن باران واوري. (سمه(
کله- کله د یوه توري بدلون د ټولې جملې مانا ته زیان رسوي او سړی نه پوهېږي څه ډول یې وارزوي.
د ساري په توګه په پښتو کې هر وخت فاعل تر مفعول مخکې راځي، خو ځینې کسان چې د نورو ژبو تر اغېزې لاندې دي او د نورو ژبو ګرامري قواعد پرې اغېز کړی، په پښتو کې هم تېروتنې کوي:
_احمد، وحید وواهه.
د ژباړن موخه دا وي، چې وحید راولاړ شو، احمد یې وواهه. خو په دې جمله کې اصلي مانا داسې ده، چې احمد اوچت شو، وحید یې وواهه. نو که وحید اوچتېږي او احمد وهي، باید داسې ولیکل شي:
_وحید، احمد وواهه.
_انسان پاک خدای پیدا کړی دی. (ناسمه(
_پاک خدای، انسان پیدا کړی دی. (سمه(
_په پټیو کې شوتلې، باران راشنې کړې. (ناسمه(
_باران، په پټیو کې شوتلې راشنې کړې) .سمه(
یو شمېر توري اوس په اوښتې بڼه کارول کېږي، چې سمه مانا نه ورکوي. د ساري په توګه یو توری یا یو حالت چې باید د اغېزناک (موثر) په توګه وکارول شي، د) اغېزمن) یانې (متاثر) په بڼه کارول کېږي. هغه خبره یا عمل چې پر نورو یې اغېز کړی وي، اغېزناکه (موثره) ده. باید د اغېزمن (متاثر) په توګه ونه کارول شي.
غمجنیه پېښه. (ناسمه) یا هم وایي: خواشینې خبره ده.
_غمجنه د اغېزمن (متاثر) لپاره کارول کېږي. باید:
_غموونکې، غمناکه، خواشینوونکې وکارول شي.
_دردمنه، خبره ده. (ناسمه(
_دردناکه خبره ده. (سمه(

ځینې نور توري بیا د خلکو لـه خوا په بله مانا کارول کېږي، چې اصلي مانا یې ډېره متفاوته ده او هېڅ سر نه ورسره خوري.زیات کسان اوس هم د (اړه) او (اړوند ) توپیر نه شي کولای.
اړه د ارتباط مانا لري، په جمله کې داسې راځي:
په دې اړه د خلکو خواشیني زیاته ده.
اړوند د مربوط مانا لري، چې په جمله کې داسې راځي:
_اړوندو چارواکو پرې خواشیني څرګنده کړه.
یا:
رڼا یوازې په لمر پورې اړوند توکی نه دی.
خو اوس په نړیوالو راډیوګانو کې هم د دغو دوو یادو شویو تورو توپیر نه سره کېږي. دوی اوس هم وایي:
_په دې اړوند چارواکي وایي.
چې سمې بڼې ته یې باید پام وشي. دغه ډول باریکۍ که اوس اصلاح نه شي، وروسته په ژبه کې زیاتې ستونزې راولاړوي، چې دغه ډول ستونزې زیاتره ځوان پوړ ته ګڼ شمېر جنجالونه او سرخوږي ولاړوي. خو استاد رشاد ، بیا د (هکله- اړه او ارتباط ) پرځای (باب ) غوره ګڼي .

## کمپیوټر او انټرنټ، یوه غوره وسیله

که څه هم د انټرنټ او کمپیوټر له عمرڅخه ډېر وخت نه تېرېږي، خو بیا هم دغه وروستي شپېه- پنځه شپېته کاله د کمپیوټر او انټرنټ د پیلامې او پیل کلونه ګڼل کېدی شي .
کمپیوټر نړۍ ته یوه داسې وسیله شوه، چې چاپې په نولسمه پېړۍ کې اټکل هم نه شوای کولای. که چا یې کومه خاکه په ذهن لرله، نو اوسنۍ پرمختللې بڼه به یې نه شوه انځورولای.
خو د ژباړې په برخه کې کمپیوټر څه کوي؟
دا دی نیمه پېړۍ کې کېږي، چې د کمپیوټر یا په بله وینا ماشیني ژباړې لپاره سافټ وېرونه یا کمپیوټري اوزارونه جوړ شوي دي. چې په هماغو لومړیو کلونو کې یې د هېوادونو پانګونه وهڅوله او همغه مهال یې د نړۍ پام ځان ته راواړاوه .
هالېنډ په 1983م کال کې اووه لس ګیلډره چې اته نیم ملیونه ډالره کېږي، د ژباړې د ماشین پر یوې څېړنیزې طرحې ولګولې، چې موخه یې د ژباړې په برخه کې د زیاتو اسانتیاوو رامنځته کول وو. همدغه لېوالتیا د نړۍ د نورو هېوادونو پام اړونه وه، چې دغه کمپیوټري ماشینونه یې نور هم پرمختللي کړل او دغه ستونزمن او ګران کار یې زیاتو کسانو ته اسانه او هوسا کړ.
دغې ماشیني ژباړې ته Automatic Translation وایي، چې په لنډه موده کې یو متن په بېلابېلو پراګرافونو کې بلې ژبې ته ژباړي.
البته وړاندې به یوازې له انګرېزي څخه فرانسوي، جاپاني، روسي او الماني ژبو ته ژباړه کېده، خو اوس دغه ماشین انګرېزي ژبه په فرانسوي، الماني، اسپانوي، ایټالیایي، جاپاني، چیني او نورو... هم اړوي .
د نړۍ د دغو ژبو ویونکي زموږ په شان په دومره کړاو او ستونزو کې نه دي راښکېل. بلکې هغوی که غواړي د بلې ژبې ګټورې او ارزښتمنې لیکنې ولولي، نو د دې ماشین په مرسته یې ژباړي او په ډېره اسانۍ سره یې لولي. هغه داسې چې په کمپیوټر کې دغه کمپیوټري پروګرام ته متن ورکوي، هغه یې هم ستاسو د خوښې ژبې ته اړوي او ستاسو په واک کې یې درکوي.
دا په نړۍ کې د کمپیوټري حافظې رامنځته کېدل وو، چې یوې هېښوونکې او بېساری پرمختګ ته یې لار اواره کړه. د همدغې ځواکمنې او کم مصرفې وسیلې په مرسته د ټولو انګرېزانو، فرانسویانو، جاپانیانو او ... وړپېښې ستونزې اواري شوې .
هغوی په یوه دقیقه کې په زرګونو پراګرافونه په خپله ژبه او له خپلې ژبې څخه نورو هغو ته اړولای شي. دغه پروګرامونه په انټرنټ کې هم ځای پرځای شوي، چې همدغه کار په څو ثانیو کې ترسره کوي او که څوک د نړۍ په هره برخه کې وي، نو له دغه پروګرام څخه په کار اخیستلو سره هم خپل ټول هدف او خبرې نورو ته ورلېږدوي، هم د نورو ژبو ګټور توکي په خپله ژبه کې لوستلای او کارولای شي.
دا خو څرګنده خبره ده، چې په پرمختللو ژبو کې به نوي توري او لغتونه رامنځته کېږي او نورې اصطلاحګانې به راوځي، خو د دې پروګرام جوړوونکي کولای شي هر کال دغه پروګرام ته یوه نوې بڼه ورکړي او ټول نوي توري وروپېژني. کېدی شي دغه پروګرام ځینې جملې داسې سره واوړي، چې ګرامري تېروتنې په کې وي، خو انسان یې بیا بېرته سمونه په اسانۍ سره کولای شي.
دا مهال اکثره موسسې او ارګانونه په دې رقابتي هڅه کې دي، چې دغه ډول نور سیستمونه هم جوړ کړي، چې په څېړنیزو فعالیتونو کې ترې کار واخلي .
ان په اروپایي هېوادونو کې داسې نور ماشینونه هم جوړ شوي، چې غږ په تورو او توري په غږ اړوي، دغه راز که تاسې په انګرېزي کې ورته خبرې وکړئ، دغه ماشین یې په هماغه ثانیه کې په فرانسوي، جاپانۍ یا نورو... ژبو اړوي. چې له دغه ماشین څخه زیاتره په راډیوګانو کې کار اخلي او په دې برخه کې یې یو ستر انقلاب راوستلی دی.
خو له بده مرغه چې پښتنو ته تر اوسه پورې په دې برخه کې هېڅ کار هم نه دی شوی. د یادونې وړ ده، چې زیاتې نورې ژوندۍ ژبې هم لا له دغه نعمت څخه برخمنې شوې نه دي او کېدی شي ډېر کلونه وروسته له دغې اسانتیا څخه ګټه اوچته کړای شي.
انټرنټ په نړۍ کې د کار و بار یوه لویه او مهمه وسیله ګرځېدلې ده، چې ټوله نړۍ یې د یوه واحد نړیوال کلي Global village غوندې سره ترلې ده، د شلمې پېړۍستره لاسته راوړنه انټرنټ و، د انټرنټ په دودېدو سره ګڼ شمېر خلک وزګاره شول، دا ځکه چې دغه وسیله د لسګونو او سلګونو کسانو کار په یوه وخت کې کولای شي.
د نړۍ نور ملتونه په خپل تاریخ، کلتور او ادب پورې اړوند کتابونه او نورې خپرونې په انټرنټ کې ږدي، چې د نور خلک یې د نړۍ په هر ګوټ کې کتلای شي. پرته له دې چې کومه ستونزه وګالي، کولای شي ویې لولي، له ځان سره یې په خپل کمپیوټر کې خوندي کړي او لیکنه ورباندې وکړي.

له نېکه مرغه په دې وروستيو کې پښتو هم انټرنټ ته لاره موندلې، چې ځينې بهرمېشتي افغانان يې د لا تقويه کولو او ځواکمنولو لپاره کار کوي. اوس په انټرنټ کې پښتو وينډوز، پښتو ليکبڼې (فونټونه) او پښتو سيستمونه شته، چې خلک که هرځای وي، خپل کمپيوټر ته يې راکښته کولای شي، پرته له دې چې کوم لګښت يا مصرف پرې راشي، خپل کمپيوټر پښتو کولای شي.

په دغو پښتو ويبپاڼو کې پښتو کتابونه، پښتو لنډۍ، شعرونه، تخنيکي ليکنې او نور مواد ځای کړل شي، چې د هرې مياشتې په تېرېدو سره پراختيا مومي او باور لرم، چې په نژدې کلونو کې به پښتو هم د نورو ژبو په کتار کې ودرېږي.

خو انټرنټ داسې وسيله ده چې د نړۍ په هر ګوټ کې يې خلک کارولای شي، بايد سمه استفاده ترې وشي، هغه انګرېزي ليکنې دې ځواب شي، چې د پښتنو پر هويت او کلتور يې سپکې سپورې ويلې دي. ځکه زيات پښتانه په نوره نړۍ کې خواره واره دي او نوي ماشومان يا تنکي زلميان چې کله دغه ډول ليکنې لولي، نو بد اغېز ورباندې کوي، يو خو کلتوري پرديتوب هغوی تر ګوابښ لاندې نيولی، نو دغه مضرې ليکنې يې ذهني تېښته لا زياتوي.

هغه خپرندويې ټولنې چې په لره او بره کې کار کوي، بايد د افغانستان په تاريخ پورې اړوند کتابونه د دغو ويبپاڼو څارونکو ته ورولېږي، چې هغوی يې په پاڼه کې کښېږدي.

که کوم مسلکي يا څانګيز قاموس هم ليکل کېږي، بايد په انټرنټ کې هم خوندي شي، ځکه په انټرنټ کې خلک له قاموس څخه په اسانۍ سره کار اخيستلای شي، که کوم توری يې په کار وي، د الفبا په حساب سم له لاسه توري ته ورځي او مانا يې پيدا کوي. هلته د کتاب غوندې زيات لټون ته اړتيا نه پېښېږي.

که چېرې د انټرنټ ارزښت او اسانتياوې په پام کې ونيول شي، زيات کسان به ورته مخه کوي، هم به يې له شتو معلوماتي توکو څخه سمه استفاده کوي، هم به په خپله يو څه توکي په کې خوندي کوي. نو اوس که تاسې هم له خپلې ژبې، هېواد او ملي کلتور سره مينه لرئ، همدا نن قلم اوچت کړئ او ځان وازموېئ، چې څه کولای شئ .

د پښتو د ودې او لا پراختيا په هيله